
# د لوی مخلص د کلام لغوي زېرمه




لیکوال
محمد معصوم هوتک

۲۰۱۰ع

Ketabton.com
www.notakonline.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



### لوی مخلص څوک وو؟[1]

اروابناد حاجي ولي محمد خان مخلص (۱۲۵۹ - ۱۳۲۱ش)[2] د سلطان محمد خان کاکړ زوی او د کندهار ډېر مشهور ادبي شخصیت تېر سوی دئ. د ده انتقادي او اصلاحي اشعار او پر ځنگ ئې د ده ظرافت هغه څه ول، چي د ده نوم ئې خپلو معاصرینو ادیبانو او شاعرانو او دغه راز خپل اولس ته ورپېژندلی وو. اروابناد لوی مخلص د هغه ادبي خوځښت خورا پیاوړی ملگری وو چي په کندهار کي د پښتو ادبي انجمن تر جوړېدو دمخه او وروسته په دغه تاریخي علمي او ادبي حوزه کي خپور کښلی وو.

لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي (۱۲۸۹ - ۱۳۶۳ش) د ده په باب کښلي دي: "مخلص زموږ د ادبي مرکې روڼ څراغ او په کندهار کي د نوي فکر او تجدد پر آسمان ځلاند ستوری ؤ. دا سړی زما د ځلوښتو کالو خواخوږی اشنای او په ادبي حرکت او ژبني فعالیت کي تکړه ملگری ؤ[3] ". اروابناد قیام الدین خادم (۱۳۲۵ - ۱۳۵۸ش) چي د دغه ادبي خوځښت پر وخت په کندهار کي اوسېد او په دغه خوځښت کي شامل سړی وو، د اروابناد لوی مخلص په باب کښلي دي:

---

(1) دا رساله ما په ۱۹۹۷ع کال کښلې ده خو دیارلس کاله وروسته مي بیاوکتله او ځیني زیاتوني مي پکښې راوستلې (هوتک).

(2) د ده د زېږېدلو او مړیني نېټې زموږ په معاصرو تذکرو او کتابو کي د یوه کال توپیر لري. په اوسني لیکوال (نوی چاپ - ۱۰۴۱مخ کي د علامه حبیبي د پښتو ادب لنډ تاریخ - ۲۲۵مخ په حواله ۱۲۶۰ ش کښل سوی دئ او زیاته کړې ئې ده چي دا نېټه د اوسني لیکوال په لومړي چاپ کي سهواً (۱۲۶۷ش) چاپ سوې ده. د "لوی مخلص کلیات" نومي مجموعې (۱۳۵۱ ش چاپ) د سریزي په (ج مخ) کي ئې دا نېټه ۱۲۵۹ش کښلې ده. د مړیني نېټه ئې هم په اوسني لیکوال کي "د ۱۳۲۱هـ کال د دلو د میاشتي پر ۲مه د جمعې په ورځ" لیکلې ده خو د "لوی مخلص کلیات" په (هـ مخ) کي بیا د ده وفات "د ۱۳۲۱ شمسي کال د شنبې په ورځ د د لوي په ۳ نېټه" بللی دئ. زما خیال ته داسي راځي چي لوی مخلص صاحب د ۱۳۲۱ش کال د دلوي پر دوهمه د جمعې په ورځ مړ سوی او په دا سبا ئې (د دلوي دریمه د شنبې ورځ) خاورو ته سپارل سوی دئ.

(3) د لوی مخلص کلیات - (و مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



"که څوک ګرځي ګرځي چي دا سي يو سړی پيدا کړي چي د هغه دوستي او بغض د وطنيت او مليت په نقطه مبني وي نو ګومان کوم چي سترې به شي نو آخر به ئې زړه په مخلص خوړ شي(4) ".

اروا ښاد عبدالقدوس نجيب (۱۳۰۲ - ۱۳۸۴ش) د لوی مخلص ادبي و هنري کمالونه داسي بيانوي:

"مرحوم مخلص خو زموږ د کندهار يو منلی شاعر ؤ چي شعر ئې پخوانی او سلاست ئې عوامو او خواصو منلی دئ. ده پخپلو احتماعي اشعارو کي د رشوت، خيانت، ظلم او نورو اجتماعي معائبو په کلکه غندنه کړې (ده)... عشقي اشعار ئې هومره له سوزه ډک دي چي په بې ميني زړو کي د ميني جذبه پيدا کوي او د مينو زړو د عشق اور لا تازه کوي، د طنز او ظرافت مقولې ئې چي پر اجتماعي اصلاحاتو بنا دي، تر اوسه پوري له زړو څخه نه دي محوه شوي او د صداقت او وطنخواهۍ صفت ئې په هر محفل کي کيږي، د موسيقۍ استادان ئې د موسيقيدانۍ د مهارت يادونه کوي او وايي اکثره اشعار ئې د موسيقۍ پر اوزانو برابر جوړ کړي دي...(5) ".

د لوی مخلص کليات د غلام محی الدين ايوبي په اهتمام او تصحيح په ۱۳۵۱ش کال په کندهار کي د احمدشاه بابا د کتاب چاپولو موسسې له خوا چاپ سوي دي. د رباعياتو مجموعه ئې هم تر کليات دمخه په ۱۳۳۲ ش کال(6) د نومړي ايوبي په همت د کندهار مطبعې له خوا چاپ سوې ده.

(4) اوسني ليکوال: ۱۰۴۱مخ د ۱۳۱۷ کال د سالنامې په حواله.
(5) د لوی مخلص کليات: ی - ک مخونه.
(6) دا نېټه د لوی مخلص په کليات کي ۱۳۳۳ش ده چي غالباً به چاپي تېروتنه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوی مخلص زوی ارواښاد عبدالرووف مخلص (۱۳۰۱ - ۱۳۴۲ش) هم د پښتو ژبي نقاد شاعر وو. د ده په باب دي لوستونکي د اوسني ليکوال (**۱۰۴۵**مخ - نوی چاپ) وګوري.

د ارواښاد عبدالرووف مخلص دريِ زامن پاته سوي دي.

د لوی مخلص د شعر او هنر په باب تاسي په تېرو کرښو کي د ده د عصر د پوهانو لنډ نظر ولووست چي زما د همدې کوچنوټي رسالې په پاڼو کي ئې همدومره يادونه ځايېږي. د لوی مخلص شعر له هنري لحاظه د لوړي درجې شعر نه دئ. ده شعر د ټولني د اصلاح له پاره وايه. د ده په اشعارو کي تر اندازې زياتي لغوي زېرمي زه دي ته اړ کړم چي دغه قاموس ډوله رساله وکاږم. په دې کي مي دوه مقصده دي يو خو به د مخلص مرحوم د کلام په پوهېدنه کي له لوستونکو سره مرسته وکړي، بل به د لغاتو دغه زېرمه د پښتو لوی قاموس ته لار ومومي او تر ثبت وروسته به ئې ګوندي د رواج له پاره هڅه وسي. مخلص دا ټوله زېرمه د اولس له ژبي رااخيستې ده. له ځانه ئې د لغاتو ماشين نه وو جوړ کړی. ما که ښايي په دې حاضره رساله کي ځيني مثالونه مکرر راوړي وي، درانه لوستونکي به مي معذور وګڼي ځکه د هر يوه مورد سره بېل دئ.

هيله ده د دې کوچنوټي رسالې په کښلو سره مي هغه مرحوم ته د خپل اخلاص او درناوی څرګندونه کړې او د پښتو ژبي کوچنوټې خدمت کړی وي.

محمد معصوم هوتک
۲۳ اکتوبر۱۹۹۷ع
ټورنټو - کاناډا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# {الف}

آش:

آش يو راز خواړه دي. له اخښلو اوړو ښخه نري نري تارونه په چاړه جوړ کړي بيا ئې نو په اوبو کي وايشوي چي پاخه سول له مستو يا کروتو سره ئې ګډ کړي دپاسه باندي وچه نعنا يا شينشوبی ودوړوي او په کاچوغه ئې خوري. جوړ کړی وچ آش په دوکانو کي هم خرڅېږي. آش په هوسانه کتغ کي راځي او د اشرافو خورک دئ چي پښتنو ته د نورو اقوامو له خوا راغلی دئ.

تر ښه زوی جار کړه روپۍ قورمې و آش
په بدۍ کي ئې بيا وژنه پر خشخاش
د ابا بړستن به خرڅ وي پر بازار
چي اولاد د چا اخته سي په پلاش
(۱۷۳مخ)

آش بله معنا هم لري. د پسه يا اوزګړي پوستونه په اشخارو کي خيشتوي او وروسته ئې په مخصوصو تيغو سره له وړيو ښخه پاکوي. له دغو پوستو ښخه تر آش کولو وروسته څرمني جوړېږي. په کندهار کي د پسه او اوزګړو له پوست ښخه جوړو سوو څرمنو ته (ساخت) وايي. له (ساخت) ښخه په بوټونو کي کار اخيستل کېږي، سراجان د آس قيضي او تسمې او صحافان د کتابو د وقائې بېخونه هم ځني جوړوي.

ارتاو:

(د لومړي توري په زور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شی په زور (تاو ، قوت) سره غورځول. ځان له لوړه ځایه په قوت سره رااچول.

غم پر څه خورې د دنیا په کم و بېش
"مخلص" شکر کړه بېدای سې کا درویش
او که نه له لوړه غره کړه ځان ارتاو
که راضي نه ئې د لوی باد ار په وېش
(۱۷۴مخ)

اربړی:
د خولې د خوند خرابېدل چي له ډېر خورک یا د معدې د خرابېدو له اسیته پېښېږي. څوک چي تر اندازې زیات خواړه وخوري. سهار ئې د خولې خوند خراپ، تېغ ئې بد او کله کله د نس ناسته هم ورته پېښه وي. دغه حالت ته "اربړی بد بېدل" وايي. اربړی د خولې له لاري د معدې د باد خارجولو (تېغ) ته هم ويل کېږي. د اربړي بدېدلو علاج په فاقه (لوږه) سره کېدلای سي. په محلي علاج کي ورته د سپېرکۍ شومه وباسي او يوه ډکه پياله سهار په نهاره په وچښي. په کندهار کي د "اربړي بدېدلو" ته (خوابدي) هم وايي. "د پلاني نن سهار خوابدي سوې وه، څو واره ئې خوا وگرزېدله، رنگ ئې تک ژړ اوښتی وو. کوروالا ئې د سپېرکۍ شومه وروايستله او په وئې چښله. اوس ئې لږ څه رنگ ځای ته راغلی دئ". مخلص وايي.

بېل دي نه کړه ښه او بد لمر و اوریځ
پر سر گرزوې درست عمر د نس برځ
یا په ډېر خواړه د شپې دي اربړی بد
یا له لوږي ئې ناتوانه ټوله ورځ
(۱۴۲مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارهټ:
په مځکه کي لوی څاه، چي قطر ئې شپږ اووه متره وي، وکيني او د څرخ په واسطه په مخصوصو سلواغو باندي اوبه ځني راباسي او پر مځکه ئې لگوي. له ارهټ څخه اوس د واټرپمپ په واسطه اوبه راباسي.
د ډيورنډخط د هاخوا پښتانه ارهټ ته (باوړی) وايي چي غالباً به هندی کلمه وي. د افغانانو د وروستي مهاجرت په ترڅ کي د "باوړی" لغت د خط په دې خوا کي هم عام سوی دئ. لوی مخلص ويلي دي:

چي دي نس مردار رشوت ته کړ ارهټ
پکښې ځای دي خپل پردي کړه گډوډ
نو له کوم لوري بې باسې ريشخندي
چي د سپي په څېر دي تېر کړ دا کلک هډ
(۱۵۳مخ)

په کلاسيک ادب کي ارهټ د "ارهټ" په شکل راغلی دئ. ميرزا خان انصاري وايي:

د وحدت په ځان له ځان سره بازي ده
د کثرت نوم ئې ارهټ کړ يا گرداب شو
(ديوان - ۹۷ - مخ د ۱۳۵۴ش کال چاپ، کابل)

اړي:
مجبوريت، احتياج.

لوی مخلص وايي:
پر هر چا باندي کوم وخت ورځي اړي
بېوزلي څه پېغور نه دی د سړي
له هغه ليري کوه ځان په ژوندون

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چي خپل او پردی ګڼ سره لړي
(۲۰۸مخ)

اړی :
مجبوریت، محتاجي.

لوی مخلص د "اړی" لغت داسي راوړی دئ:
په سړو پسي نن ګرزو له اړی
کې کالي وي د خمتا او د وړی
سر په کار لرو چي ډک وي د مغزو
نه ترڼلي پر کوم تش کډو بګړی
(۲۰۹مخ)

ازانګه:
په نورو لهجو کي ئې (انګازه) بولي. انعکاس، آواز.

لوی مخلص راته وايي:
که ملګری سوې د بد سړي یو ګام
ته به هم سې د هغه په خوی بدنام
چي له لوړي سي پر مځکه را ارتاو
که مات نه سي ازانګه خوځي د جام
(۱۹۲مخ)

آش آش:
د کندهار پښتانه حیواناتو او مرغانو ته په بېلابیلو حالاتو کي مختلف کلمات کاروي. د مثال په توګه، د دې له پاره چي حیوانات سم پر لار حرکت ته ادامه ورکړي، مختلف اوازونه ورته استعمالوي د (اش اش)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلمات خرو ته د تګ په وخت کي ويل کېږي. که وغواړي چي خر دي ودرېږي، (ايش) ورته ويل کېږي. اسانو ته د تګ له پاره (چو) او د درېدو له پاره (باش) يا يو بل راز اوازونه ويل کېږي. غوايانو ته د تګ له پاره (آو) وايي. اوښانو ته د چو کېدلو له پاره (ايخ ايخ) ويل کېږي.

لوی مخلص وايي:
نفس اخته کړو د دنيا په کش و پش
چي زړه نه کوي د خدای و لور ته کش
دا اوږد غوږی به سم ولاړ نه سي پر لار
ځو مچک په پسې نه وي يا اش اش
(۱۷۳مخ)

وايي چي په کندهار کي د کهندل خان د واکمنۍ قاضي القضات قاضي غلام به پر حيواناتو باندي د ظلم کولو بازخواست هم کاوه. په دغه وخت کي به خلکو خرو ته په ټوکو کي ويل "اشه اشه، قاضي غلام غوندي غاور لري".
انګېرل:
په پارسي (پنداشتن)، ګڼل.

لوی مخلص وايي:
ټول به انګېرو له ځانه چي را پېښ سوه هغه پېښ
بد مو خوښ کړه نو که څه هم ښه کارونه دي لړ
(۳۳مخ)

اوربز:
بيت الخلاء، د حاجت رفع کولو ځای، مکان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی مخلص وايي:
يو غريب ته کوم ظالم ګډ وو په رېز
نه سو کړای هغه محتاج ځني پرهېز
ما ويل دا هم ده هسي ناکامي
لکه څوک ناستي ته اړ وي د اورېز
(۱۲۷مخ)

په پورته رباعي کي "ناکامي" د ناچارۍ په معنا راغلې ده.

اووز:
څو، څونه، څومره.

لوی مخلص وايي:
نن د هيڅا پر زړه نسته دومره سوز
چي راوکاږي د بل له پښې څه زوز
هر سړی وينم د ځان په وير اخته
خپله کوټه لويوي چي دا ئې اووز
(۱۲۸مخ)

دا لغت اوس د کندهار پښتنو له محاورې څخه ايستلی دئ او اوسني ځوانان ئې حتی په معنی هم نه پوهېږي. ډاکټر عبدالرازق پالوال ئې په خپلو ليکنو کي کاروي.

اوزګړی:
د بُزې (وزې) نر ته ويل کېږي. د تلفظ په وخت کي درې څپې وي او فشار ئې پر دوهمه څپه (ګاف) باندي راځي. دا لغت په نورو لهجو کي نسته او که وي هم فشار ئې پر وروستۍ څپه اچوي. لوی مخلص وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښېلوي وينښه دنيا چندڼ او غز
خرخ به نه سي د اوزګړي پوست په خز
آب د هغه کام پر ځای چي ئې کالي
په لکو غوټو کي کم نه سي يو ګز
(۱۲۲مخ)

اوژغوني:
د اوزګړو او بُزو وربښتانو ته ويل کېږي. د پسه او اوښانو وربښتان وړی دي. وړی تر اوژغونو پستې او نرمي او په بيه هم ارزاني وي. زيږو وړيو ته هم اوژغوني ويل کېږي. د وړيو کمبله د اوژغونو تر ټغر ډېره ارزښتناکه وي. مخلص وايي:

لنډ برېستن به ستا له مخه اوږدوي په کشېدو
د کمبلي پر ځای درکړي د اوژغونو زيږ ټغر
(۲۸مخ)

اوږدغوږی:
د خره له پاره بل نوم دئ. غالباً به د پارسي (درازګوش) ژباړه وي.
لوی مخلص په همدې معنا باندي داسي راوړی دئ:

نفس اخته کړو د دنيا په کش و پش
چي زړه نه کوي د خدای و لور ته کش
دا اوږدغوږی به سم ولاړ نه سي پر لار
څو مچک پــــه پسې نه وي يا اش اش
(۱۷۳مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسار:
د اسانو خولې ته کېزه اچوي او عین دغه راز وسیله چې د خرو له پاره جوړه سوې وي، (اوسار) نومېږي. لوی مخلص وایي:

د اصیل په خدمت تېر سه تر نفس
خیر نسته په پالنه د ناکس
د سکاڼ ځای ته به ونه رسي مُشه
کې د زرو کړې اوسار، کته اطلس
(۱۷۲مخ)

"مُشه" یو راز خره ته ویل کېږي.

اوسترۍ:
وروستۍ، آخره.

لوی مخلص راته وایي:
چې اوسترۍ ورځ ارمانجن یو ماوتا
لا ړومبی ښه دئ چې ځان پوه کړو په دا
(۴مخ) - (۱۲۳مخ)

د کندهار پښتانه وایي: "اوسترۍ ورځ نامرده ده".

اومړی:
ناغښتی تار، هغه تار چې غښتل سوی نه وي، سُست تار، اوم سپنسی، اوم تار.

د لوی مخلص په کلام کې لولو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مړی تار مي غښتی چي پـه وګنډم پرهار
رقیب راغی هم تار هم ئې پرهار کړ ګډ و وډ
(۲۵مخ)

اېغ:
سمدم، وچ کلک، شخ

د قبر مړی پـه لحد کي "اېغ" پروت وي.

دا لغت لوی مخلص داسي راوړی دئ:

که غریب د ناچارۍ سي درته اېغ
پـه منت سره ئې مه وهه پـه تېغ
ځورېنګي کي دي کوم ټوک وي د ډوډۍ
چي نه کړې له هیچا ځخه دریغ
(۱۷۹مخ)

{ب}

بابک:
د جوړښت له مخي د(بابا) تصغیري شکل دئ. خو پـه اصطلاح کي د (پلار) پـه معناډېر کارېږي.

"مخلص" بولم دا ګناه
د ادې و د بابک
(۵۰ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کندهار د نجونو په لوبو کي یوه لوبه "اژاتور" یا "اشاتور" نومېږي. دوي نجوني یو بل ته لاسونه سره ورکوي، په څرخ کښېوزي او مخصوصي بدلي وايي چي یوه برخه ئې داسي ده:

آبابکه پلاره ! ولاکه مي واده کې، چي ډول د ادم خان نه وي، سورنا د فتح خان نه وي، اواري سرې غالۍ نه وي، پرناستي مسلۍ نه وي،...

اوس به تر باغ واورم، غونچه گلان به راورم، یو به و لالي ته کم، یو به و تندي ته کم، تور مي پېکی دئ، شین خال مي زمری دئ،...

آبي بي ایمنې، په واله کي لمبېدې، موسی خان درباندي راغی، په جوپون کي پټېدې، جوپون پرې پرې، جانان ته خولګۍ ورکه سبا وخت دئ د مېلې، ...

آبي بي لایکي، کمیس دي لیکي لیکي، سبا به دي واده کي، زانګو به زنګوې، ټک ټک د دروازې، تاسي وګورئ چي خپل دئ که پردی دئ، جګ نری سرې دئ، چټ کابُلی دئ...

باټ:
په درواغو سره د یو چا صفت کول، غرور، د سده وتل، خانتما.

لوی مخلص وايي:
زمانه کي ډېر مینده سي پـه ښه ساټ
خطا مه سه د هر ټګ اشنا په باټ
که دي څه درلود په شپه او ورځ درځي
چي څه نه ویني تېرېږي به په تراټ
(۱۳۹مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو چا ته وائې: "ته ډېر غښتلی سړی ئې، د زمري په جنګ ورتللای سې، په سره انګار ګډېدلای سې،..." دی هم وباتېږي اور ته لاس وروړي، لاس ئې مکوټ سي. خلک ئې پر ساده ګی باندي وخاندي.

باتي:
لاپی (لافي)، شاپي.

په کندهار کي د "باتو" له پاره "وهل" فعل کارېږي خو اوس ځيني لهجې د "ويشتل" فعل ورسره راوړي. دواړه سم دي.

لوی مخلص ويلي دي:
هونښ کوه په ډېرو باتو د هر چا مه سه غلط
کار دئ ښېل، خبري ښېلي په دنيا مه سه غلط
(۴۳مخ)

باړ:
د توپک پرله پسې ټکان (ډزي)، شليک.

لوی مخلص وايي:
چي ننګ شرم دي له سترګو ځخه ولاړ
دا منم کار به دي هيڅ نه سي اوجاړ
ولي کور ودانول د ښل په مال
خلک بد ګڼي د خور ولور تر باړ
(۱۲۵مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بتې:
تود او سوځنده دښت، کوره، داښ، د نخودو او نورو غلو دانو د بریانولو طشت.

لوی مخلص راته ویلي دي:
چي شپانه په ژمي دوبې غېلي نــه پیایي پر بتې
نه به غوښي نه غوړي وي نه شیدې نه نور نعمت
(۱۳مخ)

بج:
غټې، پلن، غورس لرګی، سوټی.

لوی مخلص مرحوم وايي:
له غښتلي سره مه لوبږه په لج
ئي کم واک څه پرېــوې د غاړي جج
ایرلا نه کوي هیڅ واری پر سرې
څو ئې سم نه کړي له تن سره خپل بج
(۱۴۱مخ)

بدپوز:
قهرجن، مغرور، بدګوزاره، عصبي.

لوی مخلص وايي:
ظالم تل سر په هوا ګرزي بدپوز
په مخ ننبلي د هر چا لکه غالبوز
لوند بې وینې دی د شــرم په اوبو
پرېسېدلی ژی اوبو نه راکړ راکوز

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۲۲مخ)

برخ:
(د لومړي توري په سکون او د دوهم په زور).
د نس د خالیگاه پرده، جمع ئې (برخې) دي.

لوی مخلص وايي:
مور به نه سي پرړينگي د چا د خدای پر پار غریب
څو ئې پرې نه کړې په ډېرو څنگ وهلو د نس برخ
(۲۰مخ)

بروځ:
بروځه، په پارسي ورته (اشنان) وايي.

لوی مخلص وايي:
چي په ژوند له تنه لیري نه سي خيره د دنیا
بیا بې پاک نکړې تر مرگه په صابون و په بروځ
(۲۰مخ)

عام نوم ئې "بروځه" دئ. دلته د قافيې اړتیا د پای (ه) ځني غورځولې ده. بروځه یو راز نبات دئ چي د کالیو په پرېمنځلو کي کار ځني اخیستل کېږي. پښتنانه مړي ته په بروځه غسل ورکوي.

بگ:
غټ، په ونه جگ، بالغ، دنگ.

لوی مخلص وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



را پـه غاړه ده د غم تربور ګلوي
يو د بل پـه مخ کي تيک لکه بګ
(۵۰ مخ)

بګړی:
دستار، عمامه (عربي). پـه کندهار کي بګړۍ ته (لنګوټه) هم وايي چي سمه نو مونه نه ده. نوري لهجې "پګړۍ" ورته وايي.

لوی مخلص وايي:
لو بګړۍ غښتي پايڅې
لڅ پړکی پــه ختو کلک
(۴۹ مخ)

پـه کندهار کي لو (لويه) بګړۍ تړل د پايلوچانو دود (رسم و رواج) وو. د ښار مهذبو خلکو خپل اولادونه نه پرېښوول چي بګړۍ تر ټاکلي اندازې لو بګړۍ وتړي. لو بګړۍ ته پـه کندهار کي "خَرَټه بګړۍ" هم وايي. يو محلي شاعر ويلي دي:

خرټه مي بګړۍ ده، پـه پښو مي دوبېلۍ ده، پـه غاړه مي سدرۍ ده، پر سر مي بلوخۍ ده.

پـه ټوله کندهار کي تر ما نسته دلاوره
يا زياته بزياتره

"دوبېلۍ" يو راز موچني ته ويل کېدله. "زياته بزايتره" د پايلوچانو تکيه کلام وو او له هري دوهمي يا دريمي خبري سره به يې تکراراوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوټي:
لرګي، د سونګ لرګي. په پارسي ئې "هيزم" بولي.

لوی مخلص وايي:
کور دي خواره مور د بوټو له نېستې
په زړو کو تودوي خپله تبې
ته د باندي لنډه غرو سره ورک
پر يوه کولک دي اينبې وي خولې
(۲۱۱ مخ)

په کندهار کي يوازي د سونګ لرګو ته (بوټي) وايي.

بوچ:
هغه څوک چي پزه ئې پيته وي. په پارسي ورته (بينی پچق) وايي.

لوی مخلص داسي ويلي دي:
شپه او ورځ چي په ګناه تېروې سوچ
بيا هوا کې د جنت کړې خيال دي پوچ
د چرې نوم به ئې نه اخيست په ژوند
که لږ شرم وای په سترګو کي د بوچ
(۱۴۳مخ)

په دي څلوريځه کي "پزپرې کړي که شرم درلودای، د چرې نوم بې نه اخيستئ" متل ته اشاره ده.

بوڅ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانان د ژړا او غم په وخت کي شونډي بوخي نيسي. "بوخ" هغه چا ته ويل کېږي چي له غم يا خپگان له اسيته ئې شونډي بوخي نيولي وي او خوابدی ناست وي.

لوی مخلص وايي:
خوشي ناست ئې په ډېر غم و ارمان بوخ
ته يوازي نه ئې هسي حيران بوخ
پورته کښېنه و بد لري ژوندون
له تاوده ساړه ئې ټوله جهان بوخ
(۱۴۵مخ)

بوده:
باروړونکی حيوان (خاروی).

لوی مخلص وايي:
ری دا وهم چي زوی دي زما لوی سي بېډون
نه پوه نه دي کمال لري بوده دي وي ژاولن
(۷۴مخ)

بوړ:
(په اوږده واو).
اوبزنه غورمه (قورمه).

په هندوستان او پاکستان کي "بوړ" د غورمې په شان تريخ کتغ ته وايي چي د لعاب برخه ئې اوبزنه او نری وي.

لوی مخلص راته ويلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا تو ورځو بوږ پروت دئ سم د لاسې تودوې
ثوک چې وخوري و روغتیا ته ئې عاجزه وې ډاکتر
(۲۷مخ) - (۱۲۴مخ)

بوز:
(په اوږده واو )آس

کتې سامبال چې هـــديرې ته مو پر وړي
زموږ په سر کي خيال د سکاڼ دئ يا د بوز
(۳۳مخ)
بوزکی:
د غالبوزو (مچيو ) آواز. مجازاً د (خبنمبډلو ) په معناکارېږي.

لوی مخلص وايي:
بدنيتي مسلک وطن کي سو آغاز
چې يو بل ته په بوزکي يو لکه تاز
که پخپله سو په کور کي سره جوړ
زما و ستا تر ميانځ به څه وکړي غماز
(۱۲۷مخ)

بوږ:
په (لس زره پښتو لغتونه) قاموس کي ئې "بوږ" ته کښلي دي: "آواز درشت".

لوی مخلص وايي:
مکړه ستونی د هيچا په وينا بوږ
هسي هم مه سه چي خوري دي لکه خوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټینګوه د زړه په غوږ کې دا وینا
ګوره سم سړي ته سم، کاږه ته کوږ
(۱۲۸مخ)

بوڼ:
ورو ږغ، د مچ زون زونګ. په پارسي ئې (طنین) بولي (وګ: لس زره پښتو لغتونه).

مخلص وایي:
بې له خپل کاره بډای پر نور څه کوڼ
نه په لوړ آواز خبرېږي نه په بوڼ
که بې هیلي سلام ورکړي لا به دی
شا د رګرزوي له قهره لکه شکوڼ
(۱۹۷مخ)

ببډَوَن:
(د ډال او واو په زور).

په (لس زره پښتو لغتونه) کې ئې د غه لغت ته کښلي دي "غیر مهذب، ناتراش". ما هم دغي معنا ته په نزدې مفهوم سره اوربدلی دئ. هغه څوک چې جسماً غټ خو د عقل له خوا پاته وي، خېله.

لوی مخلص وایي:
ری دا وهم چې زوی دي زما لوی سي ببډون
نه پوه نه دي کمال لري بوده دي وي ژاولن
(۷۴مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیورا:
ظلم، تعدا ، بې انصافي، تېری.

په قاموسو کې د "بېوره" په شکل ثبت دئ. لوی مخلص ویلي دي:

نه دي مرگ دئ پر چا باندي نه دي تپ
د غوایي په خبر و هر د ېوال ته دپ
که یو څوک درسره وکړي لږ بیورا
دا دي خیال دئ چي درست کور ئې کړئ در تپ
(۱۳۳مخ)

{پ}

پاج:
یو ډول نازک نفیس سونډي یا وربښمین ټوکر دئ چي نارینه ئې د بگړۍ له پاره استعمالوي. د پاج جامې زما (هوتک) نه یادېږي خو بگړۍ ئې اوس لا هم په کندهار کي رواج لري.

لوی مخلص ویلي دي:
نه سوم پوه چي دا ځای د خندا دئ که ژړا
زه غمخور د میني نس ډوډۍ غواړي تن پاج
(۱۷مخ)

پانیات:
عبرت، پند اخیستل.

لوی مخلص وایي:
نه په غم سوم د ناموس نه د وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library



"مخلص" خوښ په ارامي یم د خپل تن
راپاڅېږئ ورونو مخ مي کئ راتور
چي نور وکـړي څه پانیات زما په کتن
(۱۹۷مخ)

پایخوړ:
پس مانده، پس خورده، پاته سوې برخه.

لوی مخلص وایي:
له لېوه سره د بل پر مال سوې جوړ
هسي نه چي د خپل موټ په زور دي خوړ
د ګیدړ په څېر تل خوښ ئي په دا خال
چي له نورو سي در پاته کوم پایخوړ

پړ:
ملامت، مغلوب (لس زره پښتو لغتونه).

لوی مخلص وایي:
کار د ژوند دي نه کړسم "مخلص" ناپوه
پای به پړ له دنیا تللی ئي عبث
(۱۷مخ)

پرېچ:
له پزي څخه د ساه وتلو په وخت آواز، عطسه، پرچی.

په دې لاندي بیت کي لوی مخلص مجازاً د (تکبر) په معنا راوړی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم خواري ده هم د میني په اورسون
راپسې لا د غماز د پزي پرچ
(۱۸مخ)

پسخند:
رخشند ، ریشخند ، ډری.

لوی مخلص وايي:
سولې هسې د شیخی پـــه لومه بند
چې ځان نبه ګنې په بل وهي پسخند
خوشې کړې د نالیدلي خوب تعبیر
د خپل کار مآل چې نـه وي درڅرګند
(۱۴۹مخ)

پښ:
آهنګر.

لوی مخلص وايي:
نه به یوم لرو نه سپاره نه تبره توره چاړه
که پښ نه ټکوي اوسپني د خپل متې په قوت
(۱۴مخ)
که دي نه وي د بابا د میراث کربښ
په درانه سوټک ئې مومه لکه پښ
چي پر بل ئې نس تاوان که وي اصیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلا و گرزه پر هغه د بنگښ[7]
(۱۷۵مخ)

پلاش:
د قمار یو ډول دئ چي په ورقو (پتو) سره کېږي.

لوی مخلص ویلي دي:
تر ښه زوی جار کړه روپۍ قورمې و آش
په بدۍ کي ئې بیا وژنه پر خشخاش
د ابا برېستن به خرخ وي پر بازار
چي اولاد د چا اخته سي په پلاش
(۱۷۳مخ)

پلمه:
بانه (بهانه).

لوی مخلص ویلي دي:
چي پوښتي دي په ډگر کي د رشتیا
هلته نه کېږي پلمه د چل وینا

(7) په دې رباعي کي چي لوی مخلص د "بنگښ" غندنه کړې ده، ښايي هغه روايت به وررسېدلی وو چي خوشحال خټک ئې په دستارنامه (۷۳مخ، د ۱۹۹۱ع چاپ، پېښور) کي داسي یادونه کړې ده: "دا مي هم اروېدل چي جلال الدين د پير روشن، يوه بنگښه وکړه – روشانيو ورته وې چي بد دي وکړل - بنگش په خوی کښې سپک دي - که فرزند دي وشي، د بنگش په بوی به وي، د مغلو ښوروا خوره به شي - الله داد وزو، آخر د مغلو ښورا خور شه – د روشانيو وينا رښتيا ". خوشحال خان بل ځای ویلي دي:
چي مين شي قبلوي مکر دروهونه
په ياري مي قبول کړې که بنگښې
(ارمغان خوشحال: ۵۲۴ مخ)
که بنگښې = که بنگښ يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴مخ)

پمن:
(د لومړي او دوهم توري په زور؟).

هغه څوک چي د (پم) په ناروغي اخته وي. (پم) د پوست ناروغي ده او په دغه ناروغۍ باندي د اخته کسانو د بدن پوست وچ سي، خارښت کوي او د ډېرو گرولو له اسیته ئې رنگ سپین سي. پمن سړی ټوله ورځ ځان گروي.

لوی مخلص وايي:
هسي نه چي زه یوازي "مخلص" بار ورېم د غماز
ټکوي سر له مچانو هر پمن په دواړه لاس
(۳۲مخ)

پُنډکۍ:
(د لومړي توري په پېښ او د ډال په زور).
پر ټپ (زخم) یا دانه باندي اېښوول سوی ټوکر ( Bandage ). طبیبان پر گردي یا څلورکونجه پاک ټوکر باندي ملهم یا کومه بله دوا واچوي او بیا ئې پر ټپ باندي کښېږدي. دغه په دوا ککړ سوي ټوکر ته (پنډکۍ) بولي.

لوی مخلص وايي:
د جهان په بدو ښه دي څه غرض
هم په هر کار کي لوېده دي څه غرض
چي پنډکۍ اېښوواې نه سې د ملهم
د غریب پــه پرهار زړه دي څه غرض
(۱۷۷مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوپکه:
د ښکار یوه وسیله ده. د اوږده نل منځ ښه پاک او ښوی کړي. له ختهو ځخه جوړي سوي مردکي د نل په خوله کي کښېږدي او ښکاري ئې د هدف پر لور په خوله پو کړي. پوپک ئې هم بولي. په نامه کي د (پوکول، پف کول) فعل ریښه سته (وګ: ښکار او کندهار - ؟مخ).

لوی مخلص وایي:
چا سل ډزي سره ساز کړه ته لا اوس
ختهي ولي په پوپکه کي د نل
(۵۳ مخ)

له "سل ډزي" ځخه مراد هغه توپک (ماشینګن) دئ چي سل ټکان (ډزي) کولای سي.

پوړه:
(فشار ئې پر دوهمه څپه دئ).
ډاډه، ډاډمن، مطمئن، خاطر جمع (لس زره پښتو لغتونه).

لوی مخلص وایي:
که ویسا دي وي د خپل ځـان پر هنر
تل به ګرزي لالهانده ور په ور
زړه پوړه وي د تکړه موټ د خاوند
چي په هر ختهو نښلي ځني خر
(۱۲۳مخ)

پېځول:
د کږدۍ یا خیمې پلو، مجازاً د (حجاب) معنا هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی مخلص وایي:
غوړوه په دواړه کوره شاوخوا
پېښول پر مختوري باندي زما
دا خینګتیا مي بس چي ته ئې راخبر
نور مي مه باسه ډګر ته د رشتیا
(۱۳۲مخ)

{ت}

تاز:
د خزدکي په شان یو ډول حشره ده چي والوزي خورا غټې بوزکی (بوزه هاری) کوي.

لوی مخلص ویلي دي:
بدنیتي مسلک وطن کي سو آغاز
چي یو بل ته په بوزکي یو لکه تاز
که پخپله سو په کور کي سره جوړ
زماوستا تر میانځ به څه وکړي غماز
(۱۲۷مخ)

تاش:
ټغر، کمبله، ټاټ.

لوی مخلص ویلي دي:
چي اسمان دی غوړولی د غم تاش
ډېر عالم به ځان پر بایلي په تلاش
(۳۸مخ)، (۱۷۳مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاو:
پېچل سوی، پېچل کېدل، پر ملا تاوېدل. خمیدن (پارسي).

لوی مخلص وايي:
دا غریب ته سوې له درده پر ملا تاو
او که غواړې چي نیولی ئې طبخ
(۲۱مخ)

تپ:
محوه، پوپنا، یومخیزه له منځه تلل. د یو چا چي په کومه پېښه کي تولهکورنۍ له منځه ولاړه سي، وايي کور ئې تپ سو، یعني پر مېنه ئې ځوک پاته نه سو. لوی مخلص وايي:

نه دي مرګ دئ پر چا باندي نه دي تپ
د غوايي په خېر و هر دېوال ته دپ
که یو ځوک درسره وکړي لږ بیورا
دا دي خیال دئ چي درست کور ئې کړئ در تپ
(۱۳۳مخ)

تپاک:
ډېر زیات تلاښ کول. په (لس زره پښتو لغتونه) کي ئې "جوش، محبت، توجه زیاد "ورته کښلي دي. لوی مخلص وايي:

تل اخیستی ئې د سپۍ دنیا تپاک
په نېستۍ او هستي کي دي بلغاک
نه ارام سوې ته درست عمر یو ګړی
نه دي فرق وکړ د پاک ود ناپاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۸۳مخ)

تراټ:
منډه، تېزه ځغستا.

لوی مخلص وايي:
زمانه کي ډېر مینده سي په ښه ساټ
خطا مه سه د هر ټگ اشنا په باټ
که دي څه درلود په شپه او ورځ درځي
چي څه نهویني تبرېږي به په تراټ
(۱۳۹مخ)

ترخځ:
کمیس یا کومي بلي جامې ته چي اضافه ټوکر ورواچوي، دغه ټوکر ته "ترخځ، ترخځي" وايي. د ترخځو کمیس تر عادي کمیس لږ څه پراخ وي. ترخځ ته په پارسي کي "تریز" وايي (لس زره پښتو لغتونه).

لوی مخلص ویلي دي:
چي خیرن زړه ږیره رنگ کړې په نکرځ
اشارې کوې د بل مال ته په ورځ
گمان نه کړم چي سنت به کړې پر ځای
خوشي ږدې توره لمن ته سره ترخځ
(۱۴۲مخ)

ترله وتلی:
احساساتي، ځنمبدلی.

لوی مخلص وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي له کبره پړسېدلی ئې عبث
دا پر څه ترله وتلی ئې عبث
(۱۲مخ)

ترنځ:
(د لومړي توري په سکون او د دوهم په زوره کي).
ډنګر (لاغر)، ښځینه شکل ئې "ترنځه" دئ.
لوی مخلص وایي:
تر ځان لوړ ته تل وهي له ویري رنځ
بڼه ژړه سي کم وا که لکه ترنځ
کوم غریب چي تر تا کښته وي په زور
په غوړېو ئې ننوزي لکه زنځ
(۱۴۷مخ)

ترنډ:
د بي ځایه منډو، تلاښ معنا ورکوي.

لوی مخلص وایي:
نې پخپله خوري نه بل ته سوه ونډ ونډ
ترهول وزي د پنځو روپو په پنډ
بلا وګرزه پر تا باندي د خره
هغه دروند بار وړي ته خوشي وهي ترنډ
(۱۵۵مخ)

تروټ:
(د لومړي توري په سکون او لنډ واو).
تاوان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخلص وايي:
د تروټ پر ځای مي بد ايسي خپل پلار لکه پلندر
د بل پر کور ناورين گنم پر ځان باندي اختر
(۷۵مخ)

تړه:
(د لومړي او دوهم توري په زور. فشار ئې پر لومړی ځپه دئ).
ميدان، اواره مځکه.

لوی مخلص ويلي دي:
ده ول ورک سه ته پر سد ، دا خرابات دی
چي له سمي تړي سوي پر ويرانه پېښن
(۴۰مخ)
يا:
د پېغور کاڼي به تل باندي اورېږي
ولي نه پرېږدي پر سمه تړه خوار ځوک
(۴۹مخ)

"پر سمه تړه غوځار سو " يعني پر اواره مځکه چي د غوځارېدلو هيڅ راز عامل موجود نه وو ، غوځار سو.

توزنه هيله:
طمع، بې همتي، د بې همتی له اسيته کړه غاړه نيول. بايد وويل سي چي کړه غاړه که له بې همتی له وجهي نه وي، د "تواضع" او "شکسته نفسی" معنا لري. د کندهار پښتانه وايي: "توزنه هيله د خدای له دره نامېنده ده". لوی مخلص ويلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په توزنه هیله مه باسه نو کان
غم د چا نه خوري بډای، کړي ویر د ځان
په کړه وړه ئې د ښـــکاره مه سه غلط
که څه لوړ دئ سیوری نه لري اسمان
(۱۹۳مخ)

تیک:
نېغ، شخ، په جگ مغزي.

لوی مخلص وایي:
هغه دم ووزې له هوله پر ملا تیک
غوړه مال که دي بیان کړي څه اوصاف
(۴۷مخ)، (۱۷۲مخ)

{ټ}

ټپوک:
پوستین (لس زره پښتولغتونه). دا لغت اوس په محاوره کي عام استعمال نه لري.

لوی مخلص ویلي دي:
تل لوړتیا کي ځې پر لاري لک و بوک
د خوار خوله د وینو ډکه کړې په سوک
هسي وایستې له سده کوټ پتلون
چي دي هېر سو د خپل پلار څیري ټپوک
(۱۸۱مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټګ:
مکار، چمباز.

لوی مخلص وایي:
چي په بده ورځ په ښه درځي هغه ګڼه اشنا
د هر ټګ په ویړه خوله او په خندا مه سه غلط
(۴۳مخ)

نه پوهېږو نه پوښتنه کړو له پوهه
په خوږه ژبه تېر وزو د کوم ټګ
(۵۰ مخ)

ټوپ:
ټوپ په لغت کي (غورځېدلو) ته وايي. د کندهار د بزازانو په اصطلاح ټوپ د ټوکر هغه برخه ده چي رانیوونکي ته تر خپل استحقاق زیاته ورکوله کېږي. د مثال په توګه که رانیوونکی دوه متره ټوکر رانیسي، دوکاندار (بزاز) ورته دوه متره ولس سانتۍ ورکوي. دغه لس سانتۍ ته "ټوپ" وايي.

لوی مخلص ویلي دي:
دوه ګزی ټوپ به درله درکړي چي ستا زړه سي خوشحال
چي ګچه کړې په کور کي لو ښت وي کم هغه ټوکر
(۲۸ مخ)

ټوک:
اتام، د ډوډۍ کوچنۍ ټوټې.

لوی مخلص ویلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که غریب د ناچارۍ سي درته اېغ
په منت سره ئې مه وهه په تبغ
څوړينګي کي دي کوم ټوک وي د ډوډۍ
چي نه کړې له هيچا څخه دريغ
(۱۷۹ مخ)

ټوک هغي ډوډۍ ته هم ویله کېږي چي د کوڅې د کورو خلک ئې مسجد ته ورکوي. دغي ډوډۍ ته (د ملا ټوک) وايي. په کندهار کي د "نسوار ټوک" اصطلاح هم کارېږي او هغه اندازې خوړو ته وايي چي په ماړه نس (مړه ګېډه) نه وي. نسوار ټوک کېدای سي چي د پارسي "بخور و نمير" یا د انګرېزي (snack) ځای ونيسي.

ټېغ:
له خولې څخه د مرتيا (موړوالي) له اسيته باد راایستل. په پارسي ئې (آروغ) او په انګرېزي ئې (burp) بولي.

لوی مخلص وايي:
بډای لوی ټېغونه کاږي نس ئې موړ دئ
نه راوزي د غريب له لړمانه ږغ
(۴۷ مخ)

{ج}

جج:
چنغړک، تر زامي لاندي برخه. په (لس زره پښتو لغتونه) کي دغه لغت ته کنبلي دي: "بغبغه ګلو".

لوی مخلص وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



له غښتلي سره مه لوبېږه په لج
ئې کم واک څــه پېرسوې د غاړي جج
ایږ لا نه کوي هیڅ واری پر سړي
څو ئې سم نه کړي له تن سره خپل بج
(۱۴۱ مخ)

جوټ:
خوابدی، مره ور.

لوی مخلص وايي:
چي څوک لږ در کړي رشوت نو کښېني جوټ
ورته اېشي له غضبه په خوټ خوټ
دا تلکه ږدي د خپلي هوښیاری
چي په دې چمو وطن کړې سره لوټ
(۱۳۹ مخ)

{چ}

چابک:
چټک. دا لغت په پارسي کي هم سته خو هلته ئې د (باء) په پېښ (ضمه) باندي تلفظ کوي او په پښتو کي د (باء) په زوه ره کي ويل کېږي.

لوی مخلص وايي.
حکومت سي ورته اړ
څو ئې راولي چابک
(۵۰ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



چخ:
ننه ایستلی، منډلی.

لوی مخلص وايي:
په لوی لاس دي کړ خپل ځان په مځکه چخ
چي پر پوه سرې دي وخندل پخ پخ
ستا کړه وړه سره سم نه وه نه ئې ګرم
په اینداره کي دي ولیده خپل مخ
(۱۴۸ مخ)

چړوس:
بې همته، طامع، بې غیرته.

لوی مخلص وايي:
یا پخپله ئې ګتهٔ د زړه په دوک
یا راغواړه د مېړه له کوره ټوک
هر چړوس ته هیله مه کوه د څه
غوټه نه خلاصېږي هیڅ د پښې په نوک
(۱۸۱ مخ)

چغ وبغ:
ږغ وږوغ، غالمغال.

لوی مخلص وايي:
چي خاوند دي روزي لږ کړه حال بد مرغ
کړه سکته نه ببځا یه چغ وبغ
که زرغانې لګوې لکه اره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې له وچ لرګي دي نسته بل کتغ
(۱۷۹ مخ)

چلاو:
ګوزاره.

لوی مخلص وايي:
روپۍ نه مومي د خوار غوږ چي تاو نه سي
زما په لړ دنیا شلومبې سي، پلاو نه سي
په دې اوس معاش هیڅکله چلاو نه سي
د سرو غوښي به خود په رذالت خورم
(۷۷ مخ)

چندڼ:
صندل، د صندل لرګی.

لوی مخلص وايي:
ببلوي وینبه دنیا چندڼ او غز
خرخ به نه سي د اوزګړي پوست په خز
آب د هغه کام پر ځای چي ئې کالي
په لکو غوټو کي کم نه سي یو ګز
(۱۲۲ مخ)

د چندڼ وني لرګی ښه بوی لري. ماران ئې خوښوي او پر دغه بوی سره راټولېږي. په پښتو ادب کي (چندڼ) او (ماران) دوه سره تړلي مفاهیم دي. د تلوکان ملاحسن اخوند وايي:

چي چندڼ لره ورځي سر خو به بايلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افعي مارانو ځای د چندڼ سیوري

چنغړک:
جج، تر زامي لاندې د غاړې برخه. په پارسي ئې (غبغب) بولي.

لوی مخلص ویلي دي:
له ظالم سره چي تل کوې کومک
د خوار زړه ته ئې په خبر د تور توپک
گوره بله ورځ بیا مه کوه گیله
که ونیوې په لاس تر چنغړک
(۱۸۲ مخ)

چوچ:
د کور سربښته، د کور دود و دستور، گوزاره.

لوی مخلص وایي:
شپه او ورځ دي سو په سر د دنیا سوچ
زما په خیال چي گمان نه لري د کوچ
ځان دي موړ نه کړ په نس له کنجوسۍ
تل د کیکو غوړي باسي دا دي چوچ
(۱۴۳ مخ)

"له کیکو ښخه غوړي ایستل" وراشه د منتها کنجوسۍ له پاره کارېږي. ځکه (کیکه) خو بیخي ډېره وړه حشره ده چي تر شپږې (سپږې) لا هم کوچنۍ ده. له هغې ښخه د ایستل سوو غوړو اندازه اټکل کېدلای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوخ:
(په اوږده واو)
تېښتې، پر ملا کړوپ.

لوی مخلص وايي:
ولي لږ لوړتيا د وخت کړې هسې چوخ
چي په تيک مغزي دي زړه د هر چا پوخ
ليده سوي تا رنګ ډېر چي سي بېکار
غلی غلی ځي پر لاري باندي چوخ
(۱۴۸ مخ)

چول:
بې اوبو دښت، بتې بيابان.

لوی مخلص وايي:
زمانه د رومي له سمي مخ پر چول
لېونتوب اتڼ کي غورځي سره ټول
ځينو کړی دئ له ډېري ناپوهۍ
د غړکي پر دربې ګومان د ډول
(۱۸۲ مخ)

چوڼ:
ګونجه (ګونځه).

لوی مخلص وايي:
غم د رزق مه خوره پربږده د تندي چوڼ
د خاوند په کړه کي نسته ځای د سپوڼ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمکی وزبېږي چي موټ لاس کړي ورخلاص
پر لیکلی وي برات په کربنه روڼ
(۱۹۸ مخ)

چونیا:
بنفشه یي رنګ، د انګرېزي (Purple).

لوی مخلص وایي:
اوس بیا هیڅ ئي تر هغو موندلای نه سي
ځو درست مخ ئي په چاپېرو چونیا نه وي
(۷۱ مخ)

{څ}

څاخوب:
ځخوب، څاڅکي، شمه، تراوش (پارسي).

لوی مخلص وایي:
خوشي نه دي د تودو اوښکو څاخوب
آزار ډېرو ته پېښ کړی لېونتوب
لیري ګرزه له هغه زهیره زړه
چي بهېږي له پرهاره زهوب
(۱۳۰ مخ)

څپېړ:
څاپېره، چپلاخه، چاپېړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی مخلص وايي:
که د څه په غوښت ځان ورور ته کړې نژدې
درته در به کړي پر مخ باندي څپېړ
(۳۱ مخ)

څک:
څاڅکی.

لوی مخلص وايي:
څو دي زړه نسي د غم له وينو ډک
په بازار د عشق بې خرخ نه کړې په کک
نه هر کاڼی طبيعتاً دئ ياقوت
مرغلره نه سي هر د اوبو څک
(۱۸۱ مخ)

څوری:
بار، د سفر د لاري توښه، "زادوراحله".

لوی مخلص وايي:
هر څوک مرگ خوا ته لري اړي د کوچ
پخپل وار نن سبا بار تړي د کوچ
يو په بل سره پسې يو پر دې لار
مېړه هغه دئ چې څوری وړي د کوچ
(۱۴۳ مخ)

{خ}

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر:
(د لومړي او دوهم توري په زوره ره کي).
خبره، خبري.

لوی مخلص وايي:
ته خبر باسه له پاک زړه بې پروا
که ساتي په زړه کي راز یاران مخفوظ
(۴۴ مخ)

چي د مشر خبر نه وړي خوشي درومي تیک مغزی
بې غیرته به د بل پر کور سولېږي په نفاق
(۴۸ مخ)

خپړ:
(د لومړي او دوهم توري په زوره ره کي).
د انسان یا حیوان د لاس پنجه "خپړه" ئې هم بولي.

لوی مخلص ویلي دي:
وس مي نسته چي ئې وکړمه علاج
نو خیرم به په خپړ ګرېوان د درد
(۲۳ مخ)، (۱۲۴مخ)

خپل چاروکی:
هغه څوک چي په هر کار کي د ځان ګټه پلټي، ځان غوښتونکی.
خود خواه (پارسي). په انګرېزي (sel-fish) ورته وايي.

لوی مخلص وايي:
شر به نه ووزي د هغه له کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل چاروکی که ئې منځ ته راباله
اوږدوي شخړه د بل ولي داسپی
غورځېدلی دئ د شرم تر واله
(۲۰۵ مخ)

خپند:
د مځکې له سطحې سره سم اوار (لس زره پښتو لغتونه)، په خاورو لړلی.

لوی مخلص وايي:
هر څوک چې مخامخ وي پر مين يمه څرګند
چې ليري مې له ستر ګو سي وهم باندي پسخند
سرې مې په خوږه ژبه کړه ډېر په خاورو خپند
(۷۲ مخ)

خرپېټ:
کپه، سفوف، ميده دوا (لس زره پښتو لغتونه).

لوی مخلص وايي:
نه به جګوو لـه کبره غاړې يو پر بل
نه به اخلو يو د بل مالونه په خرپېټ
(۱۵ مخ)

د کندهار يوه ټوکي شاعر ويلي دي:
خرپېټ په لاس کي واخلي برابر مکان ته ځي
ملاعباس دئ خرپېټي
د "خرپېټ" څخه مراد (يوه کپه نسوار) دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواپُتهه:
خواپوتهه. هغه څوک چي اشتها ئې سوځلې وي، يا ئې له ډېر خورک څخه سترګي راختلي وي. اشتها سوخته (پارسي)، خپه، خوابدی.

لوی مخلص وايي:
رشوت نه وي له هر چا ئې مرور
سترګي رډي خواپُتهه لکه ملخ
(۲۱ مخ)

خواستغي:
لوړه، ډيره لوږه

د خپل زړهويني که وخورې په کوناغ
چي ونه شکوې مېوه د چا د باغ
درله ښه په خواستغي سره مرګی
نه چي توی اوبه د مخ کړې او نفس چاغ
(۱۷۹ مخ)

خز:
يو راز حيوان دئ چي له پوست څخه ئې پوستينونه جوړوي. د (خز) له پوست څخه جوړ سوی پوستين د نورو پوستينانو په پرتله لوړه بيه لري.

مخلص وايي:
بېلوي وينبه دنيا چندڼ او غز
خرځ به نه سي د اوزګړي پوست په خز
آب د هغه کام پر ځای چي ئې کالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لکو غوټو کي کم نه سي يو ګز
(۱۲۲ مخ)

خوشايي:
غوشايي، د غواوو او نورو حيواناتو فُضله مواد.

مخلص وايي:
بې ښکنځلو تر خوله نه باسې بل راګ
څه چي اخلي له مظلومه پر وچ ډاګ
دا سالن نه دئ چي خوري ئې په رشوت
خوشايي دي په غوړو کي نوم ئې ساګ
(۱۸۴ مخ)

خوشمرې:
پيسې.

لوی مخلص وايي:
خوشمرې چي د څو ورځو په پور له چا واخلم
که لږ څه پرې تېنګار وکړي ښکنځل ورته کوم
چي رائې کړي په ورين تندي پر مخ ئې ځني خورم
هيڅوک به له مانه واخلي خپل پور په سوواني
وګړو راسئ وګورئ زما مسلماني
(۷۴ مخ)

خېښن:
هغه خپل چي د ښځو د دوستۍ له لاري خپل سوی وي.

لوی مخلص وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې ناست ئې په خوارۍ کې هسې هېښ
مړوې به نس تر څو پر کور د خېښ
چې وې نه مومې په زور د خپل مړوند
هيڅ به نه سې پر ښېګڼه باندې پېښ
(۱۷۵ مخ)

خينګتيا:
خجالت.

لوی مخلص وايي:
چې څرګند سو ښه سپېڅلی بشر ستا
د نړۍ توره تياره ئې کړه روڼا
تول بتان لـه خينګتيا ولوېده پر مخ
په وير ورانه لو ماڼۍ سوه د کسرا
(۱۳۲ مخ) ، (۲۰۲ مخ)

{د}

دپ:
بنده هوا ، هوای راکد (پارسي).

لوی مخلص وايي:
نه دي مرګ دئ پر چا باندې نه دي تپ
د غوايي په څېر و هر د بوال ته دپ
که يو څوک درسره وکړي لږ بيورا
دا دي خيال دئ چې درست کور ئې کړئ در تپ
(۱۳۳ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



درب:
د دېوال د لوېدلو (چپه کېدلو) آواز، درز.

لوی مخلص وايي:
نن خاوند ئې د ماڼۍ او موټرو
چي عالم دئ ستا د درب په ننداړو
درپوهېږو ځان بخ نه اچوې پلن
چي له بډوډي میندلي په زرو
(۱۹۹ مخ)

درنتیا:
دروندوالی، دورندتوب.

لوی مخلص وايي:
د غم و د وير توان نسته په چا پوري هرگز
د اوښکو په درنتیا سره باڼو سي پر ملا کوږ
(۳۵ مخ)

دستور:
اماله (حماله)، د جلاب دوا.

لوی مخلص وايي:
که خواران لوږي ډنگر کړه یا معذور
ته هم درست عمر په ډېر خواړه رنځور
چي دي وينو ستا په نس کي گوره هار
دلتې خورې هلتې راباسې په دستور
(۱۲۰ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دود:
رسم و رواج.

لوی مخلص وايي:
چي په ژمي دي سمور کي کړ ځان تود
په کتغ دومره غوړي خوري لکه رود
کوم غريب چي نن ئې وږی دئ تن لڅ
له هغه سره هم وکړه لږ څه دود
(۱۵۱ مخ)

دوک:
غم، رنځ.

لوی مخلص وايي:
يا پخپله ئې ګټه د زړه په دوک
يا راغواړه د مېړه له کوره تږک
هر چړوس ته هيله مه کوه د څه
غوټه نه خلاصېږي هيڅ د پښې په نوک
(۱۸۱ مخ)

{ډ}

ډل:
د جوو د کښلو (ايستلو) يوم.

لوی مخلص وايي:
ځيني مځکي د ماشين په زور څيري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په کور کي هغه سپاره هغه ډل
(۵۳ مخ)

## {ر}

رخي:
ليکي، کرښي، کشونه، په ځان پسې کشول.

لوی مخلص وايي:
رشوت خور چي څه ونه مومي هر دم
رخي کاږي و کږې خوا ته قلم
خدايه ساتې مسلمان له هغه چا
چي د لاس کرښه ئې نښې وي د لړم
(۱۹۲ مخ)

رخچينه:
اودل سوې خولۍ.

لوی مخلص وايي:
په زړتيا ځي له هر چا حال د ځوانۍ
اوړي خوی بدلېږي رنګ له ناکامۍ
ګراتۍ ډوله وي چي خيري سي پرتوګ
له زړې رخچيني جوړه سي کپۍ
(۲۱۰ مخ)

رخشندي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریشخندي.

لوی مخلص وايي:
ځان ته نه ګورې چې څوک ئې رخشندي
چې خواران ولې په کانو لس مني
پر نور چا هم میندو وړی دئ دا زیار
که یوازي ستا مور لنګه په ستمي
(۲۰۲ مخ)
په کلاسیک ادب کي (ریشخند ) دئ (میرزا خان - ۲۳۹مخ ).

ری:
فکر، چورت.

لوی مخلص ویلي دي:
ری دا وهـــم چي زوی دي زما لوی سي ببېهون
نه پوه نه دي کمال لري بوده دي وي ژاولن
کې وغواړي د لوست د پاره ډېر یم په غمجن
تل خوښ تر سرېتوب د خپل زړه تبر په ناداني
وګړو راسئ وګورئ زما مسلماني
(۷۴ مخ)

ریخ:
نري غول، اسهال.

لوی مخلص وايي:
تریو تندی له کبره سر تر نوکه سیخ
چا دي نه ولیدل غاښ په خندا پیخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ کاته وکړه و ځان ته ریشخندي
چي دي مرگ دئ یا یو قبض یا کوم ریخ
(۱۴۸ مخ)

{ړ}

ړینگی:
دسترخوان، هغه پنډ توکر چي ډوډۍ پخولو پر وخت ځوالې (زغالې) باندي ایښوول کېږي.

لوی مخلص وایي:
موږ به نه سي پر ړینگي د چا د خدای پر پار غریب
ځو ئې پرې نه کړې په ډېرو ښنگ وهلو د نس برخ
(۲۰ مخ)

د مظلوم له کورې باسې
اوږد ړینگی دي غوړولی
په خپل کور ئې ننباسې
ورته ناست ئې پړسېدلی
(۱۱۸ مخ)، (۱۲۸ مخ)

{ز}

زخن:
هغه لرگی چي زخه ولري.

لوی مخلص وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وچ او ښوی لرگی به تا ته درښکاره کاندي اول
بیا لانده هم به زخن وي چي ایږدې د خوني ور
(۲۷ مخ)

زخه پر لرگي باندي یوه بالابود غوټه ده چي پخوانیو پارسي ژبو به (زگیل) بلله. زخن لرگی هغه لرگی دئ چي دغه شان غوټه یا غوټي ولري. نجاران زخن لرگی نه خوښوي ځکه زخه د وخت په تېرېدو سره له لرگي څخه لوېږي او ځای ئې سوری پاته کېږي. زخه د انسان پر بدن هم راخېژي.

زړوکی:
زوړ تو کر.

لوی مخلص وایي:
کور دي خواره مور د بوټو له نېستی
په زړوکو تودوي خپله تبی
ته دباندي لنډه غرو سره ورک
پر یوه کولک دي ایښي وي خولی
(۲۱۱ مخ)

زک:
(د لومړي توري په زوه ره کي).
مشک، خیگ.

لوی مخلص وایي:
سره یو دی چي له مخه دي سوه ورک
که شلومبې وي که غوړي دي په کوم زک

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي تر ستوني دي کړ تېر هم هسي راز
فرق ئې نسته د پلاو او د سوړسک
(۱۸۳ مخ)

د حیوان له پوست څخه جوړ سوی لوښی چي غوړي پکښې ساتل کېږي. همدغه له پوست څخه جوړه سوې وسیله که د اوبو له پاره کار سي، (ژی) ئې بولي او که د مستو او شلومبو د شاربلو کار ځني واخیستل سي، بیا ئې (غړکه) بولي، که د اوړو د ساتلو له پاره استعمال سي، بنیِ ورته ویل کېږي.

دې وسیلې ته ځیني پښتانه (خیگ) وایي. د خیگ یادونه په دستارنامه (۲۹ مخ، ۱۹۹۱ع چاپ) کي راغلې ده.

زلند:
(د لومړي او دوهم توري په زور "فتحه").
زبردست، جابر (وگ: لس زره پښتو لغتونه).

لوی مخلص وايي.
هر ځای کي چي کاردار سم بلوم باندي سور اور
تل بېړي ځني غواړمه د وچ لرگي په زور
زلند یم په تبره چاړه تورېم غوښې د ورور
هوسا ئې خورم هر خوار چي ئې گټي په ستوماني
وگړو راسئ وگورئ زما مسلماني
(۷۴ مخ)، (۲۰۵ مخ)

زنځ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنځه، ځنځه یو راز چنجی دئ چي ډېري پښې لري. په پارسي ئې (هزارپا) بولي.

لوی مخلص وايي:
تر ځان لوړ ته تل وهې له ويري رنځ
بېه ژړه سې کم واکه لکه ترنځ
کوم غریب چي تر تا کښته وي په زور
په غوړو ئې ننوزي لکه زنځ
(۱۴۷ مخ)

{ژ}

ژی:
مشک، د اوبو مشک (وګ: زک).

لوی مخلص وايي:
ظالم تل سر په هوا ګرزي بد پوز
په مخ ننبلي د هر چا لکه غالبوز
لوند بې ويني دی د شـرم په اوبو
پړسېدلی ژی اوبو نه راکړ راکوز
(۱۲۲ مخ)

د ژي اينبوولو ځای ته (ديوسه) وايي.

{ږ}

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږوږ:
زوږ، غالمغال، چوغ وبوغ، آوازه، مجازاً شهرت.

لوی مخلص وايي:
چي دي پروت وو د بابا د سخا ږوږ
هم د ډېر ښه سرېتوب و حیا ږوږ
تا به څه رنګ بولي زوی د هغه پلار
چي له هیڅ با به څوک نه اروي ستا ږوږ
(۱۷۰ مخ)

{س}

ساټ وباټ:
فېشن، آرایش.

لوی مخلص وايي:
اې "مخلصه" رسیده و حقیقت ته دي ډېر ګران
په ظاهره ساټ وباټ، کړه وړه د چا مه سه غلط
(۴۴ مخ)

سپاره:
(د لومړي توري په سکون).

لوی مخلص وايي:
نه به یوم لرو نه سپاره نه تبره توره چاړه
که ښن نه ټکوي او سپني د خپل مټ په قوت
(۱۴ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني مځکي د ماشين په زور خيري
ستا په کور کي هغه سپاره هغه ډل
(۵۳ مخ)

ساګ:
کتغ، نګولی، سالن.

لوی مخلص وايي:
بې ښکنځلو تر خوله نه باسې بل راګ
څه چي اخلې له مظلومه پر وچ ډاګ
دا سالن نه دئ چي خورې ئې په رشوت
خوشايي دي په غوړو کي نوم ئې ساګ
(۱۸۴ مخ)

سالن:
کتغ، ساګ.

لوی مخلص ويلي دي:
بې ښکنځلو تر خوله نه باسې بل راګ
څه چي اخلې له مظلومه پر وچ ډاګ
دا سالن نه دئ چي خورې ئې په رشوت
خوشايي دي په غوړو کي نوم ئې ساګ
(۱۸۴ مخ)

سپر:
غلام ګرد، هغه دېوال چي د کور د دروازې مخ ته د سرای د غولي پر خوا د ستر او پردې په خاطر وهل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی مخلص ویلي دي:
ښې روپۍ وړې وریجې غوښې خورې په هره ورځ کې تل
یوه نیمه میاشت سې تېره نه د بوال جوړ وي نه سپر
(۲۷ مخ)

سپرمغ:
غوړزګي، غوړوالی.

لوی مخلص وایي:
که توزن مړ سي د سره مردک په سغ
و بې نه ویني پر کور د غوړو کغ
که هر څو ئې په کټو کې ایشوې
د دې سپې ښوروا هیڅ نه لري سپرمغ
(۱۷۸ مخ)

سپوره:
وچه، بې غوړو.

لوی مخلص وایي:
تل نا روغه مې له سپوري ښوروا تن دئ
لوی سړی یم زما خوښ پلاو و سالن دئ
(۷۷ مخ)

سپوڼ:
له خولې یو وار راوتلي ساه، هجا، سیلاب.

لوی مخلص وایي:
غم د رزق مه خوره پربږده د تندي چوڼ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خاوند په کړه کي نسته ځای د سپوڼ
کمکی وزېږي چي موټ لاس کړي ورخلاص
پر لیکلی وي برات په کرښه روڼ
(۱۹۸مخ)

ستم:
(د سین په سکون).
ساه شړل، ستمی، نفسک زدن (پارسي).

لوی مخلص وايي:
ځان ته نه گوري چي څوک ئې رخشندي
چي خواران ولې په کانو لس مني
پر نور چا هم میندو وړی دئ دا زیار
که یوازي ستا مور لنگه په ستمي
(۲۰۲مخ)

سټ:
تباه او برباد، د پښ سندان (لس زره پښتو لغتونه).

لوی مخلص وايي:
ځکه چي داویش نه دئ زماو ستا په لاس
کېږي په ژوندون کي (تل) پر پورته شي بل سټ
(۱۵مخ)

د "سټ" کلمه د ناسرو په یوه ناره کي داسي راغلې ده:
ته گرم نه ئې سلمانه د تا غوټ نن ورخې مټ سو
ناسر په سړي کم دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناسر د کندهار په جنګ کې ستړ سو
(رفیع، حبیب الله، کتابونه دریابونه - ۲۹۰ مخ، ۱۹۹۷ع)

د کندهار له جنګ څخه ئې د آزادۍ هغه جګړه ده چې د افشار نادر له لښکرو سره د کندهار د دفاع په لار کې سوې او ناسرو د سیدال خان په مشرۍ درنه برخه پکښې درلوده.

سخر:
د ډبرې په شان ډېر کلک شی، پره لرونکې ډبره چې په پارسي ئې (سنګ خارا ) بولي (وګ: لس زره پښتو لغتونه).

لوی مخلص وايي:
چې بازار کې څه رانیسې تله خیري کانۍ کم
پوره حق به دي درنکړي زړونه کلک سوه لکه سخر
(۲۸ مخ)

سخوندر:
ګیلګی، خوسی، د غوا بچی.

لوی مخلص وايي:
مېږ، مینده تر شا خسي څوړند وي مدام
بها ورکړې د پسه او غوښې درکړي د سخوندر
(۲۷ مخ)

سد:
فکر، سوچ، عقل.

لوی مخلص وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنيا و کاروبار ته مي لاس نه ورځي هيڅکله
سد مي ورک سو لېونی يم عقل و فکر مي برهم سو
(۵۸ مخ)

د کندهار خلگ وايي: "په دې باب زما سد کار نه کوي" يعني عقل مي نه په رسېږي، سر مي نه په خلاصېږي.

سرابښ، سرابښی:
حريص، ارواوړی، حرص.

لوی مخلص وايي:
هر کنسکی وي پر خپله دنيا سرابښ
چي ډوډۍ بې لاندي نه کړي ښوک تر غابښ
که هر څو ورپسي ځغلې په دو دو
خلاص به نه کړې د دې سپي له غاړي وابښ
(۱۷۵ مخ)

سکته مي په هر څو گټه نه سي له سرابښی
که څه له خپلو سپينو سرو لرم ډکي بنی
د بل و لرِ دنيا ته مي نيسي کپښی
چي وې کارېم له گوتو ځني ژر په اساني
وګړو راسئ وګورئ زما مسلماني
(۷۵ مخ)

سغ:
د مردک (گولۍ) آواز.

لوی مخلص وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تو زن مړ سي د سره مردک په سغ
وبې نه وينې پر کور د غوړو کغ
که هر ځو ئې په کټو کي ايشوي
د دې سپي ښوروا هيڅ نه لري سپرمغ
(۱۷۸ مخ)

سکاڼ:
يو ډول آس دئ. په پارسي ژبه ئې (اسپ کهر) بولي (وګ: لس زره لغتونه).

لوی مخلص وايي:
کټ سامبال چي هديرې ته مو پر وړي
زمونږ په سر کي خيال د سکاڼ دئ يا د بوز
(۳۳مخ)، (۱۷۲مخ)

سَکته:
قناعت، صبر (لس زره پښتو لغتونه).

لوی مخلص وايي:
سکته مي په هر ځو ګټه نه سي له سرا ښی
که څه له خپلو سپينو سرو لرم ډکي بنی
(۷۵مخ)
چي خاوند دي روزي لږ کړه حال بد مرغ
کړه سکته نه بېځايه چغ وبغ
که زرغا ښي لګوي لکه اره
بې له وچ لرګي دي نسته بل کتغ
(۱۷۹ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سل:
(د لومړي توري په زور "فتحه ").
ثل، له لرګو څخه جوړ سوی تخت دئ چي تر لاندي ئي پړسېدلي ژي (مشک ) یا وچ کدوان تړي او له اوبو څخه د پوري وتلو پر وخت د محلي کښتۍ کار ځني اخلي. پر سل (ثل) باندي بارونه او انسانان د رود له یوې غاړي څخه بلي غاړی ته پوري باسي. له سل (ثل) سره اوبازان هرومرو ملګري وي او کرارکرار ئې څنډي ته وهي.

د کونړ پښتانه دغه راز وسیلې ته (خیګ) وایي. خیګ دغوایي له پوست څخه جوړ سوی مشک دئ.

لوی مخلص وایي:
تول دریاب کي جهازونه ځغلوي
ستا په سیند کي پروت د مات کدوانو سل
(۵۳ مخ)

سلاپور:
سود ، پر نغدو پیسو باندي ګټه اخیستل. هغه پیسې چي په یوه ټاکلې فیصدي ګټه باندي چا ته په پور ورکول کېږي. سلاپور یو راز بانکي کاروبار دئ. د سلاپور معاملې ته په کندهار کي "شنې په شنې ګټه" هم وایي. په سلاپور باندي پیسې اخیستل او ورکول دواړه په شرعي لحاظ (سود ) بلل کېږي او حرام کار دئ خو په کندهار کي ډېرو متدینو سوداګرو لا هم دا کار کاوه !

لوی مخلص وایي:
تل خورم د سلاپور ګټه ساره وي که اهاړ
پر سل سل ځني اخلم د چا کار چي وي ویجاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۷۵ مخ)

سمور:
(سمور) یو راز حیوان دئ چي له پوست څخه ئې پوستین جوړوي. له دغه پوست څخه جوړ سوی پوستین هم (سمور) نومېږي.

لوی مخلص وايي:
چي په ژمي دي سمور کي کړ ځان تود
په کتغ دومره غوړي خوري لکه رود
کوم غریب چي نن ئې وږی دئ تن لڅ
له هغه سره هم وکړه لږ څه دود
(۱۵۱ مخ)

سوټک:
د آهنگر (پښ) غټ چکوش.

لوی مخلص وايي:
که دي نه وي د بابا د میراث کرښ
په درانه سوټک ئې مومه لکه پښ
چي پر بل ئې نس تاوان که وي اصیل
بلا وګرزه پر هغه د بنګښ
(۱۷۵ مخ)

سوونکی:
ډېر سوځوونکی، تونډ.

لوی مخلص وايي:
و دي سوم اشنا یه د بېلتون په سوونکي اور

(c) ketabton.com: The Digital Library



درست بدن مي ستا له غمه تور سو لکه سکور
(۲۸ مخ)

سوڼ:
له پزي ځخه مواد راايستل، پزه ټک وهل. په دغه وخت کي د پزي آواز
ته هم سوڼ وايي.

لوی مخلص ويلي دي:
"مخلص" خلک چي مي فکر گنهي روڼ
ځان به ولي پر هر څه اچوم کوڼ
پــه وطن کي چي ځوک کاندي خيانت
د هغه پر مخ به تو کړم يا به سوڼ
(۱۹۸ مخ)

{ش}

شُپيان:
تهمت، بهتان.

لوی مخلص وايي:
پر سپېڅلو شُپيان وايي لروبر
دا دي نه دی سرېتوب ځان کړه خبر
چي په سر کي د چا سد وي لړو ډېر
هغه سپين کالي ته نه ږدي تور استر
(۱۲۳ مخ)
شخ:
تيک، نېغ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی مخلص ویلي دي:
ځي له کبره تل پر لاري باندي شخ
هره ورځ اورو ، ستا ډب دئ د خوار اخ
(۲۱ مخ)

شني په شنې:
په سود پیسې ورکول (وګ: سلاپور).

لوی مخلص ویلي دي:
چي دي ګټه شني په شنې ده پر سل لس
کړې به ډېر مسلمانان له مائې پس
مورږ ګمان نه کړو چي در به سي په ښه
د شپې ناسته د سهار لمونځ و اودس
(۱۷۲ مخ)

له "مائې" څخه مراد پانګه، سرمایه ده.

شو په شو:
تیت و پرک، پاشلي.

لوی مخلص وایي:
پردی وې پاته مړي، ما ټوله کړې شو په شو
پر لار د جوارۍ ولاړې یا ګار سوې د مېلو
(۷۵مخ)

شوړ:
د سترګو په ناروغۍ اخته، په پارسي ئې (شاریده چشم) بولي (وګ: لس زره پښتو لغتونه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی مخلص وايي:
په هر کور چي زېرمه نه وي د هلک
پای به شوږ په سترګو ګرزي په سر پک
چي پرې ونه سي روزنه د اولاد
خدای دي نه لري هغه ادې بابک
(۱۸۳ مخ)

{ښ}

ښرنه:
(د لومړي او دوهم توري په زور).
هغه مځکه چي ښره ولري، مالګينه وي.

لوی مخلص وايي:
لويه بېغمي ده د غريب له هري خوا
هيڅوک له ښرني مځکي نه غواړي خراج
(۱۷ مخ)

ښوی:
(د لومړي توري په سکون او د دوهم په زور).
لشم، صاف، اوار.

لوی مخلص وايي:
پر کاره نه پاتېږي له تا مړی نه ژوندی
هر واده ته ځې په ښوی کالو اسقاط ته لغوړن
(**۵۵** مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښیلی:
(د لومړي او دوهم توري په زور).
نااهله، په بدو کارو اخته.

لوی مخلص وايي:
الهي کار د هر چا جوړ دئ په تا
زه ښیلی خوشي ځغلم شاوخوا
نسته هیڅ چي ستا کرم نه کړه پوره
چي ئې وغواړم په خواست له بله چا
(۱۲۰ مخ)

{ط}

طوار:
یو راز سنګین او قیمتي ټوکر دئ.

لوی مخلص وايي:
چي زري اطلس طوار نه وي په کور کي
هر ګړی د ماندیني له لاسه لت خورم
(۷۷ مخ)

{غ}

غټی:
ګردی شی، ګلوله، ګردۍ غوټه، د مثال په توګه: د وارو غټی.

لوی مخلص ویلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



غتېي د زړه د وینو مي پیدا کړ بوی د مشکو
ختن ئې شرمولی دئ رنګین ختن زما
(۲ مخ)

غَرَه:
(فشار پر دوهمه څپه دئ).
مغرور.

لوی مخلص ویلي دي:
فکر کړه چي غره نه سي پخپل ځان
بېلوي نن زمانه بهتر ناڅاپ
(۱۱ مخ)

غړومبېدل:
د زمري او توپونو آوازته "غړومبی" وايي. غړومبېدل ئې مصدر دئ.

لوی مخلص وايي:
توره وباسه له تېکي د مړو په دود میدان کي
چي په زور درته غړومبېږي سر ئې پرې د هغه شبر کړه
(۲۳ مخ)

غز:
یو ډول ونه ده. د تودوخي په مقابل کي ډېر مقاومت لري او په لړو اوبو
پايي. په دښتوکي لیدلي کېږي. پارسي ژبي ئې "درخت گز" بولي (لس
زره پښتو لغتونه).

لوی مخلص وايي:
بېلوي وینه دنیا چندڼ او غز

(c) ketabton.com: The Digital Library



خرخ به نه سي د اوزګړي پوست په خز
آب د هغه کام پر ځای چي ئې کالي
په لکو غوټو کي کم نه سي یو ګز
(۱۲۲ مخ)

غوز:
(په اوږده واو ).
په (لس زره لغتونه) کې د (غوز) لغت ته کښلي دي: "پرده چرب ګردرودها ".

لوی مخلص وايي:
په دریاب کي تږي ګرځو لکه کب
یا چي سوړ نه شي په واوره د چا غوز
(۳۳ مخ)، (۱۲۷ مخ)

غوزی:
د ځوزو (اغزیو ) هغه بار چي انسان ئې پر شا باندي تر ځایه رسولای سي. په پارسي ورته (پشتاره ) وايي.

لوی مخلص ویلي دي:
پرهار شا کړه د اغزیو په درون غوزي
نه چي نور دي پر اوږو وړي لکه مږ
(۳۱ مخ)

غوندي:
جوال، غټه بوری (بوجۍ).

مخلص وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل وس که هر څوک درونډ بار وړي د حرص
زه به غونډي ځغلوم مېږی خشخاش
(۳۸ مخ)

غېلي:
رمه.

لوی مخلص وايي:
چي شپانه په ژمي دوبي غېلي نه پيايي پر بټ
نه به غوښي نه غوړي وي نه شيدې نه نور نعمت
(۱۳ مخ)

{ک}

کاک:
يو ډول ډوډۍ ده چي پر ډبرو پخېږي. شپنيان په دښتو کي لانده پتير اوړه پر ګرديو ډبرو راوپېچي او اور پر راواړوي. تر پخېدو وروسته ئې سوي ځايونه څني وتوږي او پاته برخه ئې د پخي ډوډۍ په شان خوري.

لوی مخلص وايي:
"مخلص" نفس سپی دي وتلی دئ تر واک
چي په غم کي د روزۍ ئې کړ هلاک
که نه شپه او ورځ تېرېږي پر هر چا
که خورک ئې پوست پلاو وي که وچ کاک
(۱۸۴ مخ)

کانې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاڼی غتې ګردۍ ښوی ډبري ته ویل کېږي. دغه راز کاڼی د ترازو هغه ډبري ته وايي چي د وزن له پاره کار ځني اخيست کېږي. د لوی مخلص مراد په دې لاندي څلوريځه کي دوهمه معنا ده.

چي بازار کي څه رانيسې تله خيري کاڼی کم
پوره حق به دي درنکړي زړونه کلک سوه لکه سخر
(۲۸ مخ)

کَپَنِی:
له ډېر خښم څخه رېږدېدل. په (لس زره پښتو لغتونه) کي ئې دغه لغت ته دا معناوي کښلي دي: "لرزه، عصبانيت، رعشه".

لوی مخلص وايي:
سکته مي په هر څو ګټه نه سي له سرا ښی
که څه له خپلو سپينو سرو لرم ډکي بنی
د بل و لږ دنيا ته مي و نيسي کپنی
چي وې کاږم له ګوتو ځني ژر په اساني
وګړو راسئ وګورئ زما مسلماني
(۷۵ مخ)

کپی:
موچنه، پڼه.

لوی مخلص وايي:
په زړتيا ځي له هر چا حال د ځوانی
اوړي خوی بدلېږي رنګ له ناکامی
ګراتی ډوله وي چي خيري سي پرتوګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له زړې رخچیني جوړه سي کپۍ
(۲۱۰ مخ)

کتغ:
نګولی (خواړه)، سالن.

لوی مخلص وایي:
چي په ژمي دي سمور کي کړ ځان تود
په کتغ دومره غوړي خوري لکه رود
کوم غریب چي نن ئې وږی دئ تن لخ
له هغه سره هم وکړه لږ څه دود
(۱۵۱ مخ)

کته:
(د لومړي او دوهم توري په زور، فشار ئې پر لومړی څپه دئ).
د څارویو پر شا باندي د سپارلۍ یا بار وړلو په نیامت چي کوم څه ایښوول کېږي په پښتو کي دا نومونه ورته سته.
د آس له پاره ځین (زین).
د اوښ له پاره کته.
د خره له پاره ځل.

لوی مخلص وایي:
د اصیل په خدمت تېر سه تر نفس
خیر نسته په پالنه د ناکس
د سکاڼ ځای ته به ونه رسي مُشه
کي د زرو کړې اوسار، کته اطلس
(۱۷۲ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته مثال کي "کته" د خره له پاره کار سوې ده، نېخه چي ولي؟

کجل:
د سترګو رانجه.

لوی مخلص وايي:
څو چي خاوري ئې د لاري رانجه نکړې د لېمو
که ئې سل ځله کجل کړې لا به ګرځې نابينا
(۴ مخ)

کډهل:
د کندو په شان د اوړو د ساتلو ځای، په مځکه کي لوی غار، ډب چي په پارسي ئې (ګودال) بولي.

لوی مخلص وايي:
ډک کړی له غنمو مي تر سره کډهل
تر هغو بې خرڅ نه کړم څو ئې من نه سي په شل
(۷۵ مخ)

کرښ:
نښانه، نخښه، د پښې د پله نخښه.

لوی مخلص وايي:
که دي نه وي د بابا د ميراث کرښ
په درانه سوټک ئې مومه لکه پښ
چي پر بل ئې نس تاوان که وي اصيل
بلا و ګرزه پر هغه د بنګښ
(۱۷۵ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرملاغ :
ملاق، پر سر سره اوښتل.

لوی مخلص وايي:
"مخلص " تل د سپي دنيا په سراغ
نه سوې يو گړی په درست عمر فراغ
که ئې غونډي په زر ورکړې سپيني سرې
لا وهې توري پيسې ته کرملاغ
(۱۸۰ مخ)

کرنگ :
(د لومړي او دوهم توري په زور "فتحه ").
يخی، منجمد.

لوی مخلص وايي:
چې په کور کې دې نن بيا دئ سروز و شرنگ
د هر خواره دې پاخه کړې دې رنگ رنگ
د بېوزلې په حال هم کړه ځان خبر
چې د لوږې[1] وينې زړه کې سوې کرنگ
(۱۸۵ مخ)

کرېچ:
(د لومړي توري په سکون).
د لرگي يا هډوکي د ماتېدلو آواز.

لوی مخلص وايي:

---

[1] د لوږې = د لوږې ئې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه له غمه ستا غمو کړ هسي وچ
چي ماتېږي په غوږو ئې اورم کړچ
(۱۸ مخ)

کښ:
(د لومړي توري په زور).
د یو شي د کشولو آواز (لس زره پښتو لغتونه). د لوی مخلص په دې لاندي رباعي کي د (زور، فشار، میلان) معنا لري.

ډېر د پور په کښلو مه کړه پر چا کښ
که ئې نه لرې بېځایه دی ستا کښ
په درست عمر که پوهېږې په وینا
چي ونه کړې د نیمگړي پر خوا کښ
(۱۷۲ مخ)
له "نیمگړي" څخه مراد (فاني دنیا) ده.

کغ:
سرو سوو غوړو ته د اوبو یا غوښو د اچولو پر وخت آواز ته ویل کېږي.
کله کله د غه آواز ته (جیز) هم وایي.

لوی مخلص ویلي دي:
که توزن مړ سي د سره مــــردک په سغ
و بې نه ویني پر کور د غوړو کغ
که هر څو ئې په کټو کي ایشوې
د دې سپي ښوروا هیڅ نه لري سپرمغ
(۱۷۸ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کک:
خاشه، خس، خځلی.

لوی مخلص وايي:
څو دي زړه نسي د غم له وينو ډک
په بازار د عشق بې خرڅ نه کړې په کک
نه هر کاڼی طبيعتاً دئ ياقوت
مرغلره نه سي هر د اوبو څک
(۱۸۱ مخ)

کناوېز:
يو راز سنګين ټوکر ته وايي چې د ناوي پر سر ئې اچوي.

لوی مخلص ويلي دي:
چې د جاه په هوس څوک کړي پالېز
خود په غاړې رسوايي د غم جهېز
د لښتيا جامې به ډېر درلـود عزت
کې[1] استر نه وای د هسې کناوېز
(۱۲۲ مخ)

کنجوس:
بخيل، ممسک.

لوی مخلص ويلي دي:
اوړه ورکړي ماندينې ته په خپړ
که ډوډۍ لږ سي وهي ئې په څپړ

[1] کې = که ئې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ به تل پر هر ځای تا بولو کنجوس
که سل ځله سې په دې خبره خړ
(۱۲۴ مخ)، (۱۷۲ مخ)

کنځړ:
بړستن، تلتک، لحاف.

لوی مخلص وايي:
که د بد سړي پر خواوهې چوپړ
خود اخته به ئې درست عمر په ګړبړ
دروغ تن به ئې خوند نه وي تر هغو
چې پربوزي د ناروغو په کنځړ
(۱۲۵ مخ)

کنسکی:
(د لومړي او دوهم توري په زوره کي).
بخیل، ممسک (لس زره پښتو لغتونه).
لوی مخلص وايي:
هر کنسکی وي پر خپله دنیا سرابښ
چې ډوډی بې لاندي نه کړې ثوک تر غابښ
که هر څو وریسې ځغلې په دو دو
خلاص به نه کړې د دې سپي له غاړي وابښ
(۱۷۵ مخ)

کواره :
د غزه یا انارله لښتو څخه جوړه سوې وسیله ده چي انګور یا نوري مېوې پکښې انتقالوي. د کواري شکل اوږد او په عمودي ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



اېښوول کېږي. د خولې قطرئې تر بېخ غټېږي. کواړې ته "کوارچه" هم وايي او کوچنۍ ته ئې بيا "سَوَدَه" وايي. پارسيبانان ئې (زيمله) بولي.پخوا چې له افغانستان څخه برتانوي هند او بيا پاکستان ته مېوه صادرېدله، په همدې کوارو کې ئې پر څارويو باندې انتقالوله. د موټرانو په راتګ سره د "کوارې" ځای "کرېټو" ونياوه.

مخلص ويلي دي:
چې مېوې په کوارو کې ځايوې دباندې خوا
وراسته لاندې پکښې کښېږدې ښه ئې واوډې پر سر
(۲۷ مخ)

کوبۍ :
حباب.
لوی مخلص وايي:
څوک چې تل ګډ دئ د ځان په ستايش
د هغو پر حال ژړاراځي وش وش
سر ئې نسته که ئې پورته کړې خولۍ
د اوبو د سر کوبۍ ده ميانځ ئې تش
(۱۷۳ مخ)، (۲۱۱ مخ)

کوتک :
غټ لرګی چې شپنيان ئې له ځان سره ګرزوي.

لوی مخلص وايي:
تل په تاو ګرزي مېچن د شنه فلک
په غمو سرې اوړه کړه زړ او لک
څوک ئې ماته نه کړې څنډه د ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا د مخه خوري پر سرد مرگ کوتک
(۱۸۱ مخ)

کوټه:
برخه، توده (پارسي).

لوی مخلص ویلي دي:
نن د هیچا پر زړه نسته دومره سوز
چي راوکاږي د بل له پښې څه زوز
هر سړی وینم د ځان په ویر اخته
خپله کوټه لویوي چي دا ئې اووز
(۱۲۸ مخ)

کودی :
کودرکی، کودری. په پارسي (تیکر، سفال) ورته وايي. د خاورین لوښي ټوټه.

لوی مخلص وايي:
مخ پر لورکړه د صنعت که غواړې دا
چي کودی د وطن خرڅ کړې په الماس
(**۳۵** مخ)

کولک :
ټېک، د تندي لوړه برخه.

لوی مخلص وايي:
کور دي خواره مور د بوټو له نبستی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړوکو تودوي خپله تبې
ته دباندي لنډه غرو سره ورک
پر یوه کولک دي ایښې وي خولې
(۲۱۱ مخ)

کوناغ :
نېستي، خواري.

لوی مخلص وايي:
د خپل زړه ویني که وخورې په کوناغ
چي ونه شکوې مېوه د چا د باغ
درله ښه په خواستغي سره مرگی
نه چي توی اوبه د مخ کړې او نفس چاغ
(۱۷۹ مخ)

کونجتي :
یو راز غوړي داني دي چي ځینی پښتانه ئې (کونځلي) بولي، کنجد
(پارسي).

لوی مخلص وايي:
په غوړو کي د کونجتو تېل یا وازگي یا شلغم
خو تر ستوني بې تېر نکړي که څوک ځان کړي په خبر
(۴۷ مخ)

کونډیانه :
کونډتوب.

لوی مخلص وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي له کاره ئې لاس وخېژي حيران سي
پر مړوښې باندي سخت د کونړيانه ږغ
(۴۷ مخ)

کونګره :
(دري ځپې ويل کېږي).
هغه ښځه چي فالونه ګوري، فالبينه ښځه.

لوی مخلص ويلي دي:
چي نه پوه ئې نه خاوند ئې د کمال
په کونګرو باندي څه ګورې خپل فال
مخ د خير به ونه وينې هيڅ وخت
نه په ورځ او نه په مياشت او نه په کال
(۱۸۷ مخ)

کهال، کهاله:
لټ، تنبل.

لوی مخلص وايي:
لټ نه کار کړي نه پروا لري په ننګ
غزولي پښې کهاله پر نس چنګ
چي نه بار وړي او نه سم تلای سي پر لار
د متېه خرو خاوندان وي ډېر په تنګ
(۱۸۵ مخ)

متېه خر به غالباً (مشه خر) وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهې:
یو راز تېشه ده چي بوټی په پرې کوي.

لوی مخلص وايي:
د کهې لاستی که نه وي له خپل ځانه
له ریښو به ونه، نه سي په لگ لگ
(۵۰ مخ)

{گ}

گادړ:
ناکس.

لوی مخلص وايي:
د مېړه پر خپل مړوند باندي تکیه
منت نه مني پر ځان د هر گادړ
(۳۲ مخ)

گار:
تاوان، مصرف، لگښت.

لوی مخلص وايي:
پردی وي پاته مړی ما ټوله کړی شو په شو؟
پر لار د جواری ولاړي یا گارسوي د مېلو
(۷۵مخ)

گاړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستېږ، ګاته شلومبې.

لوی مخلص وايي:
پښتون تل هګۍ، شيدې، ګاړه، غوړي خوري
په تودو ژړو اوبو ئې پروا نه وي
(۷۲ مخ)

ګاوله :
چپلکه، موچڼه.

لوی مخلص وايي:
که پخوا وو په وطن کې هسې چوټ
چې په پښه د چا به ګاوله وه يا بوټ
نن دنيا غواړي خپل دود له هره چا
موږ ته هم ښايي چې وکړو پتلون کوټ
(۱۴۰ مخ)

ګچه :
اندازه.

لوی مخلص وايي:
دوه ګزی ټوپ درله درکړي چې ستا زړه سي په خوشحال
چې ګچه ئې کړې په کور کې لو ښشت وي کم هغه ټوکر
(۲۸ مخ)

ګډ:
خبري کوونکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی مخلص وايي:
تش کوگل بدن مي وچ کړ د يار غم
ځکه ګډ يم په نارو لکه رباب
(۹ مخ)

اوس په دواړو لاسو ګډ ئې بل ته نه ورکوې وار
موږ نور کار له تا څه غوښتئ هسي نه چي سې خطيب
(۹ مخ)

گراتی:
(د گاف په سکون).
خيري کوټ، کرتی.

لوی مخلص وايي:
په زړتيا ځي له هر چا حال د ځوانی
اوړي خوی بدلېږي رنګ له ناکامی
گراتی ډوله وي چي خيري سي پرتوګ
له زړې رخچيني جوړه سي کپی
(۲۱۰ مخ)

گرالبي:
خيري ګرېوان.

لوی مخلص وايي:
کې زه ستا له ګرالبو وړم تې زما له ګرالبو
له خپل وروره ګټه لو شرمساري ده
(۲۲ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرېږ:
هغه څوک چي د بدن وربېښتان ئې تر اندازې زيات او ګڼ وي، پُرموی (پارسي).

لوی مخلص وايي:
چي سموالی د چا نه واورې په غوږ
په ورو وروتګ غلط مه سه د هر ګرېږ
شرمښ غلی تر شپانه پوري ورځي
څو چي ونيسي تر غاړه د بل مړ
(۱۲۹ مخ)

ګله واره :
ځولۍ وشمه ټوکر چي د آس پر شا باندي پروړ له يوه ځايه بل ځای ته انتقالوي.

لوی مخلص وايي:
ببل دي نه کړه سره ښه او بد په چڼ
کار د دين دنيا دي واړه پله ګڼ
ګله واره نس د وريجو غوښو ډک
لا نارې وهي چي کمه دي بانجڼ؟
(؟مخ)

"پله ګڼ" سره ګڼ، پله شلول.

ګنده:
(فشار پر اوله څپه).

لوی مخلص وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله گنده کړه د سل ټکرو په گنډ
په پردي برېستن به تود نه سې په څنډ
که ئې سره کړې لڅېرې دي پړکي
که پېښې پټې کړې له سره پاله لنډ
(۱۵۳ مخ)

گنډهېر:
تريخ، زهر.

لوی مخلص وايي:
"مخلص " پاڅه نن دي وار دئ د ملي ژبې خدمت ته
پر دښمن د پښتنوالي درست خوارېه وارېه گنډهېر کړه
(۲۳ مخ)

گنگړې:
جنجالونه، سرگرداني.

لوی مخلص وايي:
اعتبار د دنيا مه گڼه خپل بخت
هوسا نه ئې که څه ناست ئې پر لوړ تخت
ته په زرو گنگړو غمو اخته
د غريب غم تش يوه ډوډۍ د وخت
(۱۳۷ مخ)

گودړ:
زوړ ټوکر.

لوی مخلص وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي له قدره پر دنیا سپ ځومره لوړ
هغه څه له پاره سته هغومره ځوړ
د ورېښم ټوکر ښایسته کړي په زر تار
آخر پروت دئ پر انبار لکه ګودړ
(۱۲۴ مخ)

ګوسړي:
د شا پاله پر ښت باندي واري خوړل.

لوی مخلص وايي:
د بګړی ولوني په غاړه کي لوېدلي
ګوسړي خوري پر ښت هيڅ ری ئې تر شا نه وي
(۷۳ مخ)

ګونده:
ګله واره، د پروړو لوی جوال.

لوی مخلص وايي:
د تروټ پر ځای مي بد ایسي خپل پلار لکه پلندر
د بل پر کور ناورین ګنم پر ځان باندي اختر
مردک چي له ما چپ وي که پر ورور سي برابر
د پروړ په ګونده ځي زه ئې نه يم ارماني
وګړو راسئ وګورئ زما مسلماني
(۷۵ مخ)

{ل}

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاښ :
مړی، لاش، نعش (پارسی). لاښ د غره کمر ته هم وايي.

لوی مخلص ویلي دي:
چي و بډو ته پر اړخ لکه چنګاښ
تل ورځي په هغو مه باسه خپل غاښ
"مخلص " ځان خوندي کوه په بل دي څه
سره پرېږده وږی سپی او مردار لاښ
(۱۷۲ مخ)

لت :
وهل خوړل.

لوی مخلص وايي:
چي زري اطلس طوار نه وي په کور کي
هر ګړی د ماندیني له لاسه لت خورم
(۷۷ مخ)
لج:
سرټمبه ګي.

لوی مخلص وايي:
له غښتلي سره مه لوبږه په لج
ئې کم واک څه پړسوې د غاړي جج
ایږلا نه کوي هیڅ واری پر سړي
څو ئې سم نه کړي له تن سره خپل بج
(۱۴۱ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لچ:
د سترګو یا ګوتو یو راز ناروغي ده. څوک چي په اخته سي خورا سخت دردونه ګالي.

لوی مخلص وايي:
ما چي ولیدی مرض د لېونتوب
له طاعونه هم بتر دئ هم تر لچ
(۱۸ مخ)

لښ:
لاښ. د مړه سوي حیوان جسد.

لوی مخلص وايي:
نفس دي ولي کړ په دا ډول سرکښ
چي له ښو څغلي پر شا په بدو خوښ
له سپېڅلي ګټې نه کوي خپل ژواک
خوله وهي لکه تېپوس په مردار لښ
(۱۷۵ مخ)

لښکښ هغه چا ته ویل کېږي چي له سلاخانې (مسلخ) څخه حلال سوي پسونه د قصاب تر دوکانه پوري رسوي.

لک وبوک :
پورته وکښته، لوړي و ژوري.

لوی مخلص وايي:
تل لوړتیا کي ځي پر لاري لک وبوک
د خوار خوله د وینو ډکه کړې په سوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۸۱ مخ)

لغوړن :
بې نظافته، خیرن، چټل، خواګرزن.

لوی مخلص وايي:
پر کراره نه پاتېږي له تامړی نه ژوندی
هر واده ته ځي په ښوی کالو اسقاط ته لغوړن
(**۵۵** مخ)
یا:
هغه مور و پلار د وړکو دئ دښمن
چي له کوره ئې راباسي لغوړن
څوک چي نه کړي ښه پالنه د اولاد
خود بې زوی او لور یا پک وي یا پمن
(۱۹۲ مخ)
لغوړن منفي صفت دئ که د چا له نامه سره یو ځای راسي، په عیبو کي ئې شمېرل کېږي. اوس ئې ځیني لیکوال د مثبت صفت په توګه کاروي چي ما (هوتک) ته سهي نه ایسي.

لوړمالوړ:
شورماشور.

لوی مخلص وايي:
درست عالم دئ کښېوتلی د دنیا په لوړمالوړ
چي نه خوار پکښېي ودان نه د بډای سو زړه په جوړ
(**۲۹** مخ)، (۱۲۴ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه بیت کي "لوړمالوړ" د (شورماشور، سرگردانۍ) معنا لري. دا لغت ما له مخلص پرته د بل چا په کلام کي نه دئ لوستلی. په عامه محاوره کي ئې هم له استعمال سره نه یم مخامخ سوی.

له سره پاله :
د سر له خوا.

لوی مخلص وايي:
خپله گنده کړه د سل ټکرو په گنډ
په پردي برېستن به تود نه سې په ځنډ
که ئې سره کړې لخبړي دي پړکي
که پښې پټي کړې له سره پاله لنډ
(۱۵۳ مخ)

له مغربه پاله :
د مغرب له خوا.
لوی مخلص وايي:
پر گناه باندي چي دومره ئې زړه ور
خو په تله د مرگ پر لور نه ئې خبر
ستا په خیال چي تر هغو به ئې ژوندی
څو راخېژي له مغربه پاله لمر
(۱۵۸ مخ)

{م}

ماغوت :
یو راز فیریني ډوله خواړه خواړه دي. ماغوت د بډایانو خورک دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی مخلص وايي:
چي ژر سوځي ستا مزاج لکه باروت
خو د دي نس غواړي پلاو، قورمه ماغوت
سپور د کبر الوتکه په هوا
کښته کېږي د رشوت په پراشوت
(۱۳۵ مخ)

مانده:
کوچنۍ شپله.

لوی مخلص وايي:
بد رواج کړه لار د دين راځخه ورکه
ځو له سمي مخ پر غره یا پر مانده یو
(۲۰ مخ)

ماښجن :
خوابدی، مرور.

لوی مخلص وايي:
چي ووينې اشنا دي ورته مه ژاړه ډېر ډېر
اې زړه چي ماښجن نه کړې دلدار په لېونتوب
(۱۰ مخ)

مچک :
کوږ لرګی چي له درختو څخه د مېوو شکولو پر وخت د وني ښاخونه د کښېږ خوا ته په راکشوي. هغه لرګي ته هم مچک وايي چي خره په شړي.

لوی مخلص وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفس اخته کړو د دنیا په کش و پش
چي زړه نه کوي د خدای و لور ته کش
دا اوږد غوږی به سم ولاړ نه سي پر لار
څو مچک په پسي نه وي یا اش اش
(۱۷۳ مخ)

مردک :
ګولۍ، مرمۍ.

لوی مخص وایي:
د مردک پرهار په کم وخت کي جوړېږي
ټپ د بدي وینا بولم مرګیالي خوږ
(۳۴ مخ)

مرغټانه :
یو ډول حشره ده چي ځینی پښتانه ئې (ګونګټه، ګونګټ) بولي. دا حشره له خوشایو (غوشایو ) څخه ګردۍ ګردۍ ټوټې جوړوي او د خپل غار پر لور ئې رغړوي. دغو ګردیو ټوټو ته هم مرغټانه ویله کېږي. مرغټانه (ګونګټه) په پارسي (قانغوزک) بولي.

لوی مخلص ویلي دي:
ټول د خپلي ګټي لور ته مرغټاني رغړوي
زماني په مرور او په پخلا مه سه غلط
(۴۳ مخ)

مړانه :
مېړانه، همت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی مخلص وايي:
څه بد خوی د رپاته سوی دیرینه
نه مړانه ده نه خوی د نارینه
چي د باندي دي خوا بده سي له چا
کور سوتی واخلې پر خپله ارتینه
(۲۰۳ مخ)

مړوښه، مړوښې :
واده سوې ښځه، هغه ښځه چي مېړه ئې ژوندی وي.

لوی مخلص وايي:
چي له کاره ئې لاس وخېژي حیران سي
پر مړوښې باندي سخت د کونډیانه رېغ
(۴۷ مخ)

مکړې:
یو راز سور کوچنی چنجی دئ چي په اوبو کي پر ملا غبرگ غبرگ سره اوړي. معمولاً په څاهانو (څاگانو) کي پیدا کېږي.

لوی مخلص وايي:
په بدي مو کړه یو بل سره انډانډ
سره نه سوو د خوږمن پرهار په گنډ
"مخلص" نه کړم هیڅ گیله له زماني
زه پخپله یم مکړې د هغه ډنډ
(۱۵۵ مخ)

منگ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر.

لوی مخلص ویلي دي:
په منگ تېر تر شپېته یم لامي زړه غواړي ځواني
وگرېو راسئ وگورئ زما مسلماني
(۷۲ مخ)

مُنگاچي:
مُنگاري، د خبنم (قهر) په وخت کي په نوکانو باندي د ځان یا بل چا د بدن زخمي کول، خراشیدن (پارسي).

لوی مخلص وايي:
لو بگړی او ښکر په گنډه څه ضرور
چي وینو په منگاچو دي مخ سور
خبر نه یو چي غښتلی ئې رشتیا
که دي مور غښتلی ستایي پر تنور
(۱۵۹ مخ)

موشه، مُشه :
یو راز خره ته ویل کېږي. موشه خر زیاتره نه د بار وړلو وي، نه د سپارلی. له مستی له اسیته نه تابع کېږي او تل خرچلکي وهي.

لوی مخلص ویلي دي.
د اصیل په خدمت تېر سه تر نفس
خیر نسته په پالنه د ناکس
د سکاڼ ځای ته به و نه رسي مُشه
کي د زرو کړي اوسار، کته اطلس

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۷۲ مخ)

مینده:
ناخسي پسه.

لوی مخلص وایي:
مېږ، مینده تر شا خسي ځوړند وي مدام
بهاورکړې د پسه او غوبنې درکړي د سخوندر
(۳۷ مخ)

{ن}

ناتار:
ناتار یو راز خواړه دي. په مستو یا شلومبو کې ډوډۍ وره کړي وروسته پیاز، هوږه او بادرنګ په ګډ کړي، دپاسه نعنا یا شینشوبی پر ودوړوي. ناتار د ګرمۍ د موسم خواړه دي. اولنیو کابلیانو "جان عمه" ورته وایه.

لوی مخلص ویلي دي:
خپل پردي ئې هیڅ تر ستوني نه تېرېږي
تر پلاو ئې د تروو شلومبو ناتار خوښ
(۴۱ مخ)

نرد:
د شطرنج په شان یو راز بازي ده.

لوی مخلص ویلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



له رشوته چي کړې درست عمر معاش
خود بايلل به دي په نرد وي يا په تاش
چي په دې توگې گټې هسې ښندې
خانه !ستا پر هوښياری باندي شاباش
(۱۷۳ مخ)

نيمگړې :
مجازاً د (فاني دنيا ) په معنا.

لوی مخلص ويلي دي:
ډېر د پور په کښلو مه کړه پر چا کښ
که ئې نه لرې ببخايه دی ستا کښ
په درست عمر که پوهېږې په وينا
چي ونه کړې د نيمگړې پر خوا کښ
(۱۷۲ مخ)

{و}

واج :
عوض، مبادله (لس زره پښتو لغتونه).
لوی مخلص ويلي دي:
خدای دي هيڅ مه کړه خاوند د هغه واج
چي ئې مومې په سپيتانه او احتياج
که درونتيا په سر کي درد پيدا کوي
پر سر مه سه د چا هسي ډول تاج
(۱۴۱ مخ)

واري :

(c) ketabton.com: The Digital Library



قربان، جار.

لوی مخلص وايي:
په مړتيا کې هر سړی کوي ياري
هم وربولي دي په جار و په واري
دا څرګنده چې په وخت کې د نېستې
پلار له زويه څخه کاندي بېزاري
(۲۰۹ مخ)

وازګه :
ځيني پښتانه ئې (وازده) بولي، دکندهارپښتانه وازګي ته (مو ) هم وايي.

لوی مخلص وايي:
په غوړو کې د کونجتو تېل يا وازګي يا شلغم
خو تر ستوني بې تېر نکړې که څوک ځان کړې په خبر
(۳۷ مخ)

واښ :
د اوښ د غاړې مهار.

لوی مخلص وايي:
نن د هيلي واښ "مخلصه" وشلاوه اشنا
خدای زده چې بې بيا په محبت کړې سبا روغ
(۴۲ مخ)، (۲۰۷ مخ)
يا بل ځای:
هر کنسکی وي پر خپله دنيا سراښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ډوډۍ بې لاندي نه کړې څوک تر غاښ
که هر څو ورپسې ځغلې په دو دو
خلاص به نه کړې د دې سپي له غاړې واښ
(۱۷۵ مخ)

وانې :
(فشار ئې پر لومړۍ څپه دئ) میده سوی ناپاک درمند ، د "وانه" په شکل هم کارېږي.

لوی مخلص راته وایي:
څوک به لري مځکي درمندونه وانې ډېر
څوک به وږېجن له غریبۍ وي په هر وټ
(۱۵ مخ)

وټ:
لو سوی کښت، خالي مځکه.

لوی مخلص ویلي دي:
څوک به لري مځکي درمندونه وانې ډېر
څوک به وږېجن له غریبۍ وي په هر وټ
(۱۵ مخ)

وربږ :
د آس د څټ وربښتان.

لوی مخلص وایي:
که د خوار زړه پـه دنیا پسي وي خوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ هم هسي دئ په غم د ډېر و لږ
اوبو وړی که لاس اچوي و ځگ( ته )
سپاره هم لـه ويري نيسي د آس وربږ
(۱۲۹ مخ)

وربېجن:
زلخوربی، ډېر وربی.

لوی مخلص وايي:
څوک به لري مځکي درمندونه واني ډېر
څوک به وربېجن له غريبۍ وي په هر وټ
(۱۵ مخ)

وهم:
وارخطايي، ببره (وبره).

لوی مخلص وايي:
له وهمه سترگي نه لري طاقت د يار د مخ
يارانو ما ليدلی دئ د حسن نزاکت
(۱۴ مخ)

{هـ}

هل:
د يوي کولو تبش.

لوی مخلص وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجار د خوني ور کړي هم ښه کټ د پرېوتو
کلکي مځکي په خيرېږي هل ئې د بر لري طاقت
(۱۳ مخ)

هول:
له چتې وتل، وارخطايي.

لوی مخلص وايي:
هغه دم ووزې له هوله پر ملا تيک
غوړه مال که دي بيان کړي څه اوصاف
(۴۷ مخ)، (۱۲۴ مخ)

هېښ:
حيران، اريان، بې عقل.

لوی مخلص وايي:
ولې ناست ئې په خوارۍ کې هسې هېښ
مړوې به نس تر خو پر کور د خېښ
چې وې نه مومې په زور د خپل مړوند
هيڅ به نه سې پر ښېګڼه باندې پېښ
(۱۷۵ مخ)

{ي}

يېپ:
غوټه، ډوب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی مخلص وايي:
ځان ته ګټه وروړ ته زيان لکه کشپ
دا دي څه وکړه منحوسه کښېنه چپ
د اسلام په منځ کي چيرته وو ببلتون
تا ميندہ کړ، سپي د مرګ په غوټه يپ
(۱۳۲ مخ)

يوم:
ببل، ببلچه.

لوی مخلص وايي:
نه به يوم لرو نه سپاره نه تبره توره چاړه
که پښ نه ټکوي اوسپني د خپل مټ په قوت
(۱۴ مخ)

## وراشې او اصطلاحات

ماغزه شلومبې کېدل:
دا وراشه هغه وخت ويله کېږي چي يو چا ته بيا بيا يو مطلب وويل سي او هغه غوږ نه پر نيسي نو وايي چي د سرماغزه مي شلومبې سوه خو پر تا ئي هيڅ اثر نه کېږي.

لوی مخلص ويلي دي:
د "مخلص" ماغزه شلومبې په ډېر ويل
نور مي پسله دې يارانو کړئ معاف
(۴۷ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باد تر وږی سپک:
ډېر تحقیر کېدل.

لوی مخلص ویلي دي:
نو چي لوی سي مور او پلار
کړي د باد تر وږی سپک
(۴۹ مخ)

پر غوږ وهل:
نورو ته په کنایه خبره کول. دا وراشه هغه وخت کارېږي چي ثوک نه غواړي چا ته مخامخ کومه خبره وکړي.

لوی مخلص ویلي دي:
ځان ته وایم پر غوږ نور وهم چي پوه سي
زه "مخلص" یم د وطن غم د ملت خورم
(۷۸ مخ)

نه مات نه څه توی:
دا وراشه هغه وخت کارېږي چي یو ثوک پر نه څه باندي خښمېدلی وي او د خښم (قهر) له پاره کوم منطقي دلیل موجود نه وي.

لوی مخلص ویلي دي:
ولي لږ کار ځان ته ډېر کړو په نزاع
چي خپل خوږ ژوند سره تېر کړو په نزاع
خو نه مات او نه څه توی دي نو پر څه
خوند د شات لکه ګنډهېر کړو په نزاع
(۱۷۸ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملک تر مخ د غاتري (کچري) تر شا نه تېرېدل:
دا متل و شمه جمله ده. د کلي د ملک تر مخ که څوک تېر سي هرومرو کومه لانجه ورته پېښېږي او د غاتري (کچري) تر شا که څوک ودرېږي په لغته ئې وهي. ځکه نو دا وراشه یا متل ویل سوی دئ.

لوی مخلص وایي:
د چا پام چي ځان ته نه کړي څه چابک
هر سړی په درنو درونږ په سپکو سپک
مه درېږه د کچري سپی، تر شا
مه ترمخ کله تېرېږه د ملک
(۱۸۲ مخ)

حال پلن اچول:
ځان ناخبره (ناګومانه) اچول، تجاهل.

لوی مخلص وایي:
چي ترلی ئې په سل فکره غمجن
ځان شلوه له تولو، حال واچوه پلن
تر هغو به هوسا نه سي په ژوندون
څو په پښه کي دي سپنسی لکه ستن
(۱۹۳ مخ)

دغه راز (۱۹۵ مخ) خو دلته "ځان مه اچوه پلن" لیکل سوی دئ چي د چاپ غلطي ئې بولم.

ځان کوږ اچول:
دا وراشه هم د تېري وراشي په شان کارېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان ناخبره (ناګومانه) اچول، تجاهل.

لوی مخلص وايي:
"مخلص" خلک چي مي فکر ګڼي روڼ
ځان به ولي پر هر څه اچوم کوڼ
په وطن کي چي څـوک کاندي خيانت
د هغه پر مخ به تو کړم يا به سوڼ
(۱۹۸مخ)

توبه له مړو خالي کېدل:
توبه د کندهار په لوېديځ کي د کوړک په غره کي د يوې سيمي نوم دئ.د
دغه ځای خلک چي له چا څخه کوم نادوده عمل ووينې نو وايي چي
"توبه له مړو (مېړنو ) خالي ده، کنه ستا چاره به ئې درکړې وای".

لوی مخلص همدا مطلب بيان کړی دئ:
چي پر لار ځې د نوکانو پر سرو
تل سورنا وهې له خياله په سږمو
نو راوړی به ئې ته يوازې مور
يا "توبه د اخک تشه له مړو "
(۲۰۰ مخ)

له ږيري لکۍ جوړېدل:
دا وراشه د ځان شرمولو ، نامناسبه کار کولو پر وخت ويله کېږي.

لوی مخلص راته وايي:
نن منصف ناست ئې د عدل پر چوکۍ
ګوره خرڅ چي نه کړې دين په څو روپۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



که له حقه دي مخ گرزاوه پر ځټ
نو له ړیري به دي جوړه سي لکۍ
(۲۰۷ مخ)

میرزا عبدالقادر بیدل هم د پورتنۍ څلوریځي د وروستي نیم بیتي مطلب په یوه بیت کي ویلی دئ:
پیش بینی کن، زننگ حسرت ماضی برا
بر قفا نظاره کردن، ریش رادُم می کند
(دیوان بیدل، جلد دوم، ص ۹۱۵ ، تهران ۱۳۸۲ش)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**